# الاعراف

**مکی سورة دی ۲۰۶ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

الٓمٓصٓ ١

**الف- لام- میم- صاد( په حقیقی معنی يې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**

كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيۡكَ فَلَا يَكُن فِي صَدۡرِكَ حَرَجٞ مِّنۡهُ لِتُنذِرَ بِهِۦ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٢

**ای پیغمبره ! دا یو( با عظمته) کتاب دی چې تاته نازل شوی نو( د تبلیغ لپاره يې) زړه مه تنګوه. د هغه د نزول هدف دادی چې( کافران ورباندې د ناوړو اعمالو او افکارو له شوم عاقبت نه) وویروې (او مؤمنانو ته) پند او نصیحت دی.**

ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٣

**( ای خلکو!) تاسو د هغو احکامو پیروی وکړی چې د رب له لوری مو تاسو ته نازلیږی او له هغه نه غیر، د نورو باطلو خدایانو اطاعت مه کوی( خو حقیقت دا دی چې تاسو د الله پاک اوامرو او نواهیو ته لږه پاملرنه کوی) او پند اخستونکی در پکې ډیر لږ دی.**

وَكَم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا فَجَآءَهَا بَأۡسُنَا بَيَٰتًا أَوۡ هُمۡ قَآئِلُونَ ٤

**ډیر داسې کلی او ښارونه وو، چې مونږ يې( اوسیدونکی د ګناهونو له امله)هلاک کړی او په داسې وخت کې ورباندې عذاب نازل شوی چې د شپې او یا هم د غرمې په آرام خوب ویده وو( لکه د لوط او شعیب قومونه).**

فَمَا كَانَ دَعۡوَىٰهُمۡ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَآ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٥

**همدا چې زمونږ عذاب ورباندې راغی یوازینی دعا او استغاثه يې دا وه چې ویل يې: بیشکه مونږ ظالمان وو( او په خپلو کړو پښیمانه یو، خو دغه وخت پښیمانی هیڅ ګټه نه لری؟)**

فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ٦

د قیامت په ورځ به له هغو خلکو نه چې پیغمبران ورته استول شوی، پوښتنه کیږی( چې آیا الهی پیغام ورته رسیدلی که نه او ځواب مو څه و؟) او پخپله له پیغمبرانو نه به هم( د دین د تبلیغ او رسالت د سرته رسولو او په مقابل کی یې د عامه عکس العمل د څرنګوالی په باب) یقیناً پوښتنه کیږی.

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ ۖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ٧

بېشکه مونږ به د خلکو( د عقائدو، اعمالو او اخلاقو په باب) دقیق معلومات او نتایج، هغوی ته بیان کړو، ځکه چې مونږ له هغوی نه لیرې نه وو( او په هر ځای کې د دوی په رفتار او کردار حاضر او ناظر وو).

وَٱلْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ ۚ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْمُفْلِحُونَ ٨

په دغه ورځ( د اعمالو د سنجش) میزان یو مسلم حقیقت دی، د هرچا (د نیکو اعمالو) تله چې په دغه ورځ درنه او ارښتناکه وخیژی، بریمن او برلاسی دی.

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُوا۟
بِـَٔايَـٰتِنَا يَظْلِمُونَ ٩

او د چا( د نیکو اعمالو) تله چې سپکه او بې ارزښته ثابته شی نو خپل ځان ته یې سخت زیان اړولی، ځکه همدوی وو چې تل به یې زمونږ د آیتونو او احکامو په مقابل کې د ظلم او دښمنی دریغ نیولی و.

وَلَقَدْ مَكَّنَّـٰكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَـٰيِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا
تَشْكُرُونَ ١٠

او تاسو مو په ځمکه کی استوګن او واکداران کړئ او د ژوندانه ټول وسایل او نعمتونه مو درته برابر کړل خو تاسو یې بیاهم په مقابل کې، لږ شکر کوونکی یاست.

وَلَقَدْ خَلَقْنَـٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَـٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَـٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِـَٔادَمَ
فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ ٱلسَّـٰجِدِينَ ١١

او ستاسو( لومړنی نیکه آدم ) مو پیدا کړ، بیا مو ورته شکل او څېره ورکړه، وروسته مو پرېښتو ته امر وکړ چې آدم ته(د تعظیم) سجده وکړی( او احترام يې په ځای کړی)، ټولو بې له ځنډه سجده وکړه خو یوازې ابلیس( چې له جنیاتو څخه و) فرمان و نه مانه او په سجده کوونکو کې شامل نه شو.

قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ۖ قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ

مِن طِينٍ ﴿١٢﴾

الله تعالی وفرمایل: (ابلیسه) څه شی منع کړی چې سجده دې و نه کړه سره له دې چې ما درته امر هم کړی و؟( ابلیس) وویل: زه له هغه نه غوره او بهتر یم، زه دې له اوره پیدا کړی یم او هغه دې له خټې.

قَالَ فَٱهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَٱخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ

ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿١٣﴾

الله تعالی وفرمایل: له (آسمانی جنت څخه) ښکته شه. تاته نه ښایی چې په دغه مقام کې خپل تکبر او لویی ښکاره کړې. ووځه او ذلت دې په برخه شه.

قَالَ أَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾

(ابلیس) وویل: تر هغ ورځې چې (مړی) راژوندی کوې، ماته (د ژوند کولو) مهلت راکړه.

قَالَ إِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾

(الله تعالی) وفرمایل: تاته (د ژوند) همدغه مهلت درکړی شو( چې ته یې ارزو لرې).

قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾

ابلیس وویل: دا چې زه دې(آدم ته د بې ادبۍ له امله) ګمراه او ورټلم، زه به هم ستا د هدایت په مستقیمه لاره، انسانانو ته په څاو کی کېنېنم (او په هره ممکنه وسیله به یې د بې لارې کیدو کوښښ وکړم).

ثُمَّ لَءَاتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَٰنِهِمْ وَعَن شَمَآئِلِهِمْ ۖ وَلَا

تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ ﴿١٧﴾

(له هرې خوا) له مخامخ، شا، ښۍ او کين اړخ نه به ورته تاويږم، راتاويږم( او د ډول ډول وسوسو په وسيله به يې د حق له لارې اړوم) او بالاخره به ووينې چې زيات شمير پکې ( ستا په نعمتونو) ناشکره ( او له ايمان نه بې برخې پاتې) دی.

قَالَ ٱخۡرُجۡ مِنۡهَا مَذۡءُومٗا مَّدۡحُورٗاۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿١٨﴾

الله تعالی وفرمايل: له دې(عالی مقام) نه خوار، ذليل او رټل شوی ووځه. زه به هم دوزخ ستا او ستا له ټولو پيروانو او پلويانو ډک کړم.

وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾

او آی آدمه ته او ميرمن دې دلته په جنت کې واوسيږی، په هره برخه کې چې يې غواړی له نعمتونو يې خوړلی شی، خو دغې يوې ونې ته( چې خواږه يې د جنتيانو لپاره مضر دی) مه نږدې کيږی، که نه په ظالمانو(زيان موندونکو) کې به وشميرل شی( او نقصان به درورسی).

فَوَسۡوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنۡهُمَا مِن سَوۡءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيۡنِ أَوۡ تَكُونَا مِنَ ٱلۡخَٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾

خو شيطان هغوی ته وسوسې ورواچولې تر څو يې کالی ترې وباسی او عورتونه يې يو بل ته راڅرګند شی . ورته يې ويل رب مو ځکه له دغې ونې منع کړی( چې که يې وخوری) پرښتې درنه جوړيږی او يا به تل تر تله( ژوندی او د جنت دايمی) استوګن شی .

وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾

او په سوګندونو يې ورته ويل چې زه ستاسو لپاره (ريښتينی دوست او) نصيحت کوونکی يم.

فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٖۚ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا
يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمۡ أَنۡهَكُمَا عَن
تِلۡكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمَا عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٢

(نو دواړه آدم او حوا) يې په مکر او چلوتو تيرويستل او همدا چې دواړو د ونې خوند وڅاکه( جنتی لباس او فاخره خلعت ورڅخه وغورزيد او بيا د سترګو په رپ کې) لوڅ لغړ ولاړ وو. (په داسې حال کې چې له سخت غم او حيا نه يې ژر ژر)د جنت د ونو په پاڼو ځانونه پټول، الله تعالی ورباندې غږ کړ: آيا تاسو مې له دغې ونې، نه واست منع کړی او درته مې نه وو ويلی چې شيطان مو دښمن دی( خبره يې مه منئ)؟

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ
ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣

آدم او حوا ( په دعا کې) وويل: ای زمونږ ربه( مونږ ستا نافرمانی وکړه) او په ځانونو مو ظلم وکړ. که ته مونږ ونه ښښې او رحم راباندې ونه کړې نو يقيناً چې مونږ به زيانمن يو.

قَالَ ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ
إِلَىٰ حِينٖ ٢٤

الله تعالی ورته امر وکړ چې د (جنت له دغه لوړ مقام نه ځمکې ته) ښکته شئ، په تاسو( د آدم په اولاد) کې به ځينې له ځينو نورو سره دښمنان ياست( او هم به شيطان د انسان ) دښمن وی، او( ای د آدم اولاده!) تاسو به په ځمکه کې تر يوه ټاکلی وخته ژوند کوئ او له نعمتونو او اسانتياو نه به يې برخمن ياست.

قَالَ فِيهَا تَحۡيَوۡنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنۡهَا تُخۡرَجُونَ ٢٥

په همدغه ځمکه به مو ژوند وی، هم هلته به مو مرګ وی او بيا به( د قيامت په ورځ) له هماغې ځمکې نه بيرته راويستل کيږی.

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ
ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ٢٦

**ای د آدم اولاده! مونږ تاسو ته کالی درلیږلی( یعنې خام مواد مو پیدا کړی او د جوړولو طریقه مو درښودلې) چې ستاسو سترعورت وربانديې پټ وی او هم وربانديې تاسو ښکلی ښکاره شی، خو باید پوه شئ چې د تقوا او پرهیزګارئ لباس تر ټولو غوره لباس دی( چې انسان وربانديې باید ځان ملبس او خپل رب ته یې د تقرب وسیله شی). دغه( ظاهری او باطنی لباسونه) د الله تعالی (د فضل او رحمت) له نښانو څخه شمیرل کیږی چې خلک ترې باید پند او عبرت واخلی.**

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ
يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ
حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٧

**ای د آدم اولاده! پام چې شیطان مو تیر نه باسی لکه څنګه چې یې ستاسو لومړنی والدین له جنت نه بې برخې کړل، کالی یې ترې وایستل او لوڅ لغړ یې یو بل ته مخامخ کړل. حقیقت همدا دی چې شیطان او دارو دسته یې تاسو په داسې ډول وینی چې تاسو یې نه وینئ. مونږ، شیطانان د بې ایمانه خلکو لپاره دوستان او سرپرستان ګرځولی دی .**

وَإِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةٗ قَالُواْ وَجَدۡنَا عَلَيۡهَآ ءَابَآءَنَا وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَاۗ قُلۡ
إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٢٨

**او( دا هغه کسان دی چې) کله فحشاو ته مخه کړی نو وایی همدا راته د پلار نیکه نه راپاتې او الله تعالی هم پرې راته امر کړی دی.( ای پیغمبره!) ورته ووایه چې الله پاک هیچاته په بدو کارونو او فحشاو امر نه کوی. آیا( په جهل او ناپوهئ سره) په الله تعالی پورې هغه خبرې تړئ چې ستاسو سره یې پحقله هیڅ علم( او سند) نشته.**

قُلۡ أَمَرَ رَبِّي بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ
وَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۚ كَمَا بَدَأَكُمۡ تَعُودُونَ ﴿٢٩﴾

(ای پیغمبره!) ورته ووایه: زما رب د اعتدال په ساتلو(او له افراط او تفریط نه په اجتناب) امر کوی، او فرمایی
چې په هر لمانځه کې خپل مخ( او قلبی توجه) د هغه حضور ته متوجه کړئ او په داسې حال کې ورته دعا
وکړئ چې ایمان او عبادت مو یوازې هغه ته وقف وی( او لکه څنګه چې یې تاسو لومړی ځل پیدا کړی یاست)
بیا به هم (له مرګ نه وروسته) د هغه حضور ته ورګرځئ.

فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُۚ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُواْ ٱلشَّيَٰطِينَ
أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٣٠﴾

ځینو کسانو ته الله تعالی د هغو د پاک نیت او اخلاص له امله د هدایت نعمت ورپه برخه کړی او ځینې یې له
دغه نعمت نه محروم او ګمراه کړی دی، ځکه چې هغوی د الله تعالی په مقابل کې، د شیطان پیروی غوره ګڼلې
او ګومان کوی چې( همدا شیطانان او شیطان صفته انسانان) په سمه لار روان دی.

۞يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا
تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣١﴾

ای د آدم ځوځاته! ( د هر لمانځه په وخت) او په هر جومات کې( خپل جسمانی او معنوی) زینت او ښکلا
وساتئ( او ښکلی او مؤدبانه کالی واغوندئ) او وخورئ او وڅښئ خو اسراف او زیاتی مه کوئ ځکه چې الله
تعالی مسرفین او زیاتی کوونکی نه خوښوی.

قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ قُلۡ هِيَ
لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا خَالِصَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ
ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٣٢﴾

ووایه: چا هغه ښکلا او پاکه روزی حرامه کړې چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره پیدا کړې؟ ووایه (دغه ښکلا
او پاکه روزی) په دنیا کې د مؤمنانو لپاره ده( خو غیر مسلمانان ترې هم څه نا څه استفاده کولی شی) البته په

قیامت کې یوازې د مؤمنانو لپاره ځانګړی ده. په دې توګه مونږ( د حلال او حرام په باب) خپل آیتونه (او احکام) د پوهې او بصیرت خاوندانو ته بیانوو.

قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلْإِثْمَ وَٱلْبَغْيَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا۟ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾

وواېه: بیشکه چې زما رب، فواحش( کبیره ګناهونه) که پټ وی که ښکاره او صغیره ګناهونه او ناحقه ظلم( د خلکو مال غصبول او وربانډې زور زیاتی) حرام کړی، او د الله تعالی له واحد ذات سره په خدایی کې شریک نیول هم حرام دی( او د شرک په حقانیت هیڅ علمی سند او ) هیڅ الهی حکم نه دی صادر شوی، او له دې هم منع کړی شوی یاست چې( د تحلیل او تحریم او نورو چارو په باب) په ناپوهی او جهالت سره په الله تعالی پورې ناحقه خبرې وتړی.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾

د هر امت لپاره( د مرګ یا عذاب) یو خاص وخت ټاکل شوی او چې اجل یې راورسی بیا یکې د یوې شیبې لپاره هم وړاندې والی یا وروسته والی نه راځی.

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِي ۙ فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٥﴾

ای د آدم اولادې! کله چې زمونږ پیغمبران تاسو ته راشی او زما آیتونه او احکام درته بیانوی( نو ایمان وربانډې راوړئ او په احکامو مې عمل وکړئ) هغه کسان چې ( له نواهیو او ګناهونو نه) ځانونه ساتی( او خپل مفاسد) اصلاح کوی، نه وربانډې کومه ویره شته او نه به پریشان او اندیښمن وی.

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسْتَكْبَرُوا۟ عَنْهَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ
هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٦﴾

او هغه کسان چې زمونږ آیتونه دروغ ګڼی( او له منلو او تطبیق نه یې) تکبر او سرکشی کوی ، بیشکه چې دوزخیان دی او هم هلته به تل پاتې استوګن وی.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ
نَصِيبُهُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوٓا۟ أَيْنَ مَا
كُنتُمْ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالُوا۟ ضَلُّوا۟ عَنَّا وَشَهِدُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ
أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾

له هغه نه، بل لوی ظالم څوک دی( بلکه نشته) چې په الله تعالی د دروغو تومت تړی، یا یې آیتونه او احکام دروغ وګڼی. دا هغه کسان دی چې په دنیا کې به خپله ټاکلې موده پوره کړی او له نعمتونو څخه به یې خوندونه واخلی تر هغه چې زمونږ پرښتې ورته د سا قبضولو لپاره راشی او ورته به وایی: چیرته دی ستاسو هغه باطل خدایان او بتان چې د الله په مقابل کې مو د هغو عبادت کاوه( اوس یې راوغواړئ چې تاسو له مرګه وژغوری) دوی به ووایی هغوی خو زمونږ نه ورک دی (او مونږ یې ایکی یوازې پریښودو). او( په دې توګه) اوس دوی پخپله پخپل کفر ګواهی ورکوی.

قَالَ ٱدْخُلُوا۟ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ فِى ٱلنَّارِ ۖ
كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱدَّارَكُوا۟ فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ
أُخْرَىٰهُمْ لِأُولَىٰهُمْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ ٱلنَّارِ ۖ
قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾

(الله تعالی) به وفرمایی: اوس نو په اور کې د جن او انس له هغو ډلو سره یو ځای شی چې ستاسو نه وړاندې ورغلی دی. کله چې یوه ډله( اور ته) ورننوزی نو پخپلو هم مسلکو ډلو به لعنتونه وایی تر هغه چې ټول به

سره په دغه ذلت کې را یوځای شی او وروستنی به  د وړاندنیو( یا پیروان به د رهبرانو) په باب وایی چې: ای زمونږ ربه! همدغو خلکو مونږ بې لارې کړی یو نو اوس ورته دوه چنده عذاب ورکړه. الله پاک به وفرمایی: ستاسو د هر یو لپاره دوه چنده عذاب دی خو وربانديٍ نه پوهیږئ.

وَقَالَتۡ أُولَىٰهُمۡ لِأُخۡرَىٰهُمۡ فَمَا كَانَ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلٖ فَذُوقُواْ
ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ٣٩

او وړاندینی به وروستنیو ته وایی چې تاسو په مونږ باندې( د عذاب په کمښت کې) کومه برتری او فضیلت نه لرئ نو اوس تاسو هم د خپلو ناوړو کړنو په بدل کې د عذاب خوندونه واخلئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ وَلَا
يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي
ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٤٠

بیشکه هغه کسان چې زمونږ آیتونه دروغ ګڼی او په تکبر سره یې له منلو انکار کوی،( د دعاء، ارواحو او اعمالو) په مخ به یې د آسمان د دروازو خلاصېدل او جنت ته ننوتل داسې ناممکن  شی لکه د ستنې په سوری چې د ضخیم پړی( یا اوښ) ننوتل ناشونی دی( یعنې هیڅکله جنت نه نشی داخلیدی). همداسې ده مجرمینو ته زمونږ سزا.

لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٞ وَمِن فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٖۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي
ٱلظَّٰلِمِينَ ٤١

د دوی فرش او بستر به  د جهنم (اور) وی او له پاسه اغوستن به یې هم (اور) وی. همدغه ده د ظالمانو لپاره زمونږ تاکل شوې سزا.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَآ
أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٤٢

خو هغه کسان چې ایمان یې راوړی( او تر خپله وسه) نیک عملونه کوی د جنت مستحق دی او هم هلته به د تل لپاره هوسا ژوند لری( ځکه) مونږ په هیچا د هغه له توان او طاقت نه زیات تکلیف او ذمه واری نه ږدو.

وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلّٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ
لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ لَقَدۡ جَآءَتۡ
رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّۖ وَنُودُوٓاْ أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ
تَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾

او هر ډول کینه او خیری به یې له زړونو لیرې کړو( تر څو په جنت کې له یو بل سره په مینه او صمیمیت ژوند وکړی) په هغه جنت کې چې د قصرونو او ونو لاندې یې( د الهی نعمتونو بهاند) رودونه روان دی او دوی به وایی: ثنا او شکریه ده د هغه ذات چې په مونږ یې دا لوړ مقام( او ابدی نیکمرغی) لورولې ده ، او که د الله لورینه او هدایت نه وی، مونږ به هیڅکله دغه لاره نه وه موندلې. ربښتیا چې زمونږ د رب پیغمبرانو، مونږ ته حق ( پیغام او دعوت) رارسولی و. او غږ به وربانده وشی چې دغه ابدی نیکمرغه ژوند ستاسو د( دنیوی) نیکو اعمالو انجام او عاقبت دی.

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقّٗا فَهَلۡ
وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

او جنتیان به دوزخیانو ته غږ کړی چې مونږ ته خو هغه څه پوره پوره راورسیدل چې الله تعالی راسره وعده کړې وه، آیا تاسو ته هم هغه څه دروررسیدل چې رب مو درسره وعده کړې وه؟ دوی به ووایی: هو. نو( په همدې وخت کې به د الله تعالی له لوری) یو منادی غږ وکړی: د الله لعنت دې وی په ظالمانو.

ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾

هغوی چې خلک به یې د الله له لارې راګرځول او( په وسوسو او چلوټو) به یې ورته دغه حقه لاره کږه معرفی کوله او د قیامت له راتګه هم منکر وو.

وَبَيۡنَهُمَا حِجَابٞۚ وَعَلَى ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٞ يَعۡرِفُونَ كُلَّۢا بِسِيمَىٰهُمۡۚ وَنَادَوۡاْ
أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَن سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡۚ لَمۡ يَدۡخُلُوهَا وَهُمۡ يَطۡمَعُونَ ﴿٤٦﴾

**او د دوی دواړو( جنتیانو او دوزخیانو) ترمنځ به یو دیوال حائل وی او د اعراف ( په لوړ مقام) به داسې کسان وی چې لا تر اوسه به جنت ته نه وی تللی خو ورته به هیله من وی، او دواړه ډلې به له نښو نښانو پیژنی او په جنتیانو به غږ کوی چې سلامونه دې وی په تاسو.**

۞ وَإِذَا صُرِفَتۡ أَبۡصَٰرُهُمۡ تِلۡقَآءَ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ قَالُواْ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾

**او چې کله یې بیا سترګې د دوزخیانو په لور واوړی نو دعا به کوی چې ای ربه! مونږ په ظالمانو کې شمار مه کړه.**

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٗا يَعۡرِفُونَهُم بِسِيمَىٰهُمۡ قَالُواْ مَآ أَغۡنَىٰ عَنكُمۡ
جَمۡعُكُمۡ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٤٨﴾

**او اهل اعراف به په هغو( دوزخیانو) چې له څیرو نه یې پیژنی( د رتبې او پیغور په ډول) غږ کړی چې( دنیوی) ارګاه او بارګاه او ځانمنی او لویی مو نن څه شوه چې څه ګټه درته ورسوی؟**

أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمۡتُمۡ لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ لَا خَوۡفٌ
عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ﴿٤٩﴾

**آیا همدا( جنتیان) نه وو، چې تاسو به یې په باب قسمونه خوړل چې د الله رحمت به ونه وینی، (اوس خو هغوی ته ویل شوی چې) جنت ته ننوزئ، هغه جنت چې نه به پکې په تاسو کومه ویره او ترهه وی او نه به پکې خفه او پریشانه یاست.**

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَنۡ أَفِيضُواْ عَلَيۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ أَوۡ
مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُۚ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾

او دوزخیان به په جنتیانو غږ کړی، له هغو اوبو او خواړو نه خو لږ راکړئ چې الله پاک تاسو ته درکړی. جنتیان به ورته وایی الله پاک، جنتی اوبه او خواړه په دوزخیانو حرام کړی دی.

ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ
ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰهُمۡ كَمَا نَسُواْ لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا وَمَا
كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿٥١﴾

هغوی چې( د حق دین لاره یې پرې ایښې) او په دین به یې لوبې او مسخرې کولې او د دنیا ژوند تیرویستلی وو، او لکه څنګه چې هغوی د نن ورځې ملاقات هیرکړی و او تل یې زمونږ آیتونه دروغ ګڼل، نن یې مونږ هم هیروو( او د ښېګڼې له لسته یې وباسو).

وَلَقَدۡ جِئۡنَٰهُم بِكِتَٰبٖ فَصَّلۡنَٰهُ عَلَىٰ عِلۡمٍ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ
يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾

او مونږ دا کتاب(مبارک قرآن) هغوی ته نازل کړی او پخپل پراخ علم سره مو پکې(ټول احکام،عقاید، مواعظ او قصص) په تفصیل سره بیان کړی، تر څو د ایمان راوړونکو خلکو لپاره( د دنیوی او اخروی) نیکمرغۍ او الهی رحمت وسیله شی.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأۡوِيلَهُۥۚ يَوۡمَ يَأۡتِي تَأۡوِيلُهُۥ يَقُولُ ٱلَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبۡلُ
قَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ فَيَشۡفَعُواْ لَنَآ أَوۡ نُرَدُّ
فَنَعۡمَلَ غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ قَدۡ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا
كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٥٣﴾

آیا( بې ایمانه خلک) دې ته منتظر دی چې د الله تعالی په کتاب کې مندرج تهدیدونه( او موعود عذاب او عتاب) په خپلو سترګو ووینی؟ کله چې دغه ورځ راورسی( او د الله تعالی عذاب یې له ګریوانو ونیسی) هغه کسان به چې د دغه عاقبت تصور یې نه کاوه، ووایی: بیشکه چې د رب پیغمبران مونږ ته په حقه راغلی وو، نو آیا اوس داسې کوم شفاعت کوونکی شته چې ( الله تعالی ته) زمونږ سفارش وکړی( او له عذابه مو خلاص کړی) او یا مو بیرته دنیا ته واستوی چې د خپلو تیرو اعمالو په ځای، نیک عملونه وکړو. اوس دغه کسان له سخت او نه جبرانیدونکی زیان سره مخامخ دی او ټول هغه باطل خدایان ترې، ترې تم دی چې دوی یې په ناحقه عبادتونه کول.

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِي ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾

بیشکه ستاسو رب، الله تعالی هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو(مرحلو) کې پیدا کړل او بیا( په بلا کیف او بلا تشبیه ډول د کائناتو په سلطنت) عرش کیناست( چې د هستئ جهان ترې اداره کوی) د شپې توره پرده په چټکئ سره د ورځې په سپین مخ راخپروی( او شپه او ورځ پرله پسې یو په بله پسې ځی راځی) لمر، سپوږمی او ستوری(یې په داسې ډول پیدا کړی چې په پوره ډول) د هغه د فرمان تابع دی. خبردار اوسئ چې پیدا کوونکی او فرمان چلوونکی ذات یوازې الله تعالی دی. د ( مادی او معنوی) خیر او برکت څښتن او د ټولو کائناتو پالونکی.

ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٥٥﴾

( د خپلو دنیوی او اخروی احتیاجاتو د پوره کولو لپاره) خپل رب ته په تضرع( او اخلاص) او پټه پټه دعا وکړئ(او د دعا له آدابو او شرایطو نه) تیری مه کوئ بیشکه چې الله تعالی له حده تیری کوونکی نه خوښوی.

وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِي ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾

او په ځمکه کې، د هغو اصلاحاتو نه وروسته( چې د پیغمبرانو د بعثت نه وروسته راغلی) فساد مه کوئ او الله تعالی ته د ویرې او امید په لرلو سره دعا وکړئ ، بیشکه چې د الله تعالی رحمت نیک عمله خلکو ته ډیر نږدې دی.

وَهُوَ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ
أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنَٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنزَلْنَا بِهِ ٱلْمَآءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ
مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ۚ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې د خپل رحمت له (باران) نه وړاندې وړاندې، زیری ورکوونکی بادونه رالوزوی، بیا د هغو په وسیله، اوبلنې درنې وریځی راپورته او یوې وچې مړې ځمکې ته یې رسوی او له همدغو وریځو نه د باران په راورولو سره ( له ځمکې نه) رنګارنګه میوې راټوکوی. په همدې شان مونږ، مړی هم ( د قیامت په ورځ) له قبرونو راباسو. دغه مثالونه ځکه بیانوو تر څو تاسو( د معاد منظر په دنیا کې ووینئ او د الله تعالی د لایتناهی قدرت او ارادې نه خبر شئ او) پند ترې واخلئ.

وَٱلْبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ۖ وَٱلَّذِى خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا
نَكِدًا ۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴿٥٨﴾

او پاکه ځمکه( چې ښه او حاصلخیزه خاوره ولری) نباتات یې د الله تعالی په اراده راټوکیږی او وده کوی، او ناپاکه او شوره زاره ځمکه، بې ارزښته او بې ګټې بوټی راشنه کوی( همدغسې واخله د مؤمن پند اخستونکی او نصیحت منونکی زړه لکه د پاکې ځمکې، او د فاسق او کافر باغی زړه لکه د ناپاکې ځمکې. ) دا ډول نښې نښانې د هغو خلکو لپاره بیانوو چې د حق تعالی په نعمتونو شکر کوی( او وربانده معترف دی).

لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ
غَيْرُهُۥٓ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥٩﴾

( کافران او مشرکان تل د حق په مقابل کې دریدلی او له پیغمبرانو سره جنګیدلې لکه چې:) مونږ نوح د هغه قوم ته (چې پکی پیدا شوی او لوی شوی و، د پیغمبر په توګه) واستاوه، نو هغوی ته یې وویل: ای زما قومه ! د الله تعالی عبادت وکړئ، غیر له هغه نه ستاسو لپاره بل خدای نشته. زه تاسو ته د خیر خبره کوم( قیامت او حساب کتاب راتلونکی دی او که نافرمانی وکړئ) نو ویریږم چې د یوې لویې (هیبتناکې) ورځې( طوفان یا قیامت) عذاب به دربانډې نازل شی.

قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٦٠﴾

د قوم سردارانو او اشرافو يې وويل: مونږ دې وينو چې ته په ښكاره ګمراهۍ كې روان يې( هم د پلار نيكه له لارې اوښتى يې او هم د خدايانو له كثرت نه منكر يې).

قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي ضَلَٰلَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦١

(نوح) وويل: اى زما قومه! زه هيڅكله ګمراه او منحرف نه يم بلكه د رب العالمين پيغمبر يم.

أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنصَحُ لَكُمۡ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا
تَعۡلَمُونَ ٦٢

تاسو ته د خپل رب احكام رسوم، نصيحت درته كوم او الله تعالى په هغو حقايقو پوهولى يم چې تاسو ورباندې نه پوهيږئ.

أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡ
وَلِتَتَّقُواْ وَلَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٦٣

آيا دا درته د حيرانتيا وړ ښكارى چې ستاسو د قوم يو سړى( چې د ځوانى له وخته يې په صداقت او امانتدارئ پيژنئ ) د الله تعالى له لورى درته پند او پيغام راوړى (او د كفر او شرک له ناوړه عاقبت او انجام نه مو) ويروى، تر څو پرهيزګاران شئ او د الله تعالى د فضل او مرحمت وړ وګرځئ.

فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَأَغۡرَقۡنَا ٱلَّذِينَ
كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمًا عَمِينَ ٦٤

خو هغوى( له دغو ټولو دلايلو سره سره) دروغجن وګڼه نو مونږ هم هغه له ورسره ملګرو او پيروانو سره په كښتۍ كې روغ رمټ خلاص كړل او ټول هغه كسان مو ډوب كړل چې زمونږ آيتونه يې دروغ ګڼل او د حق له ليدلو يې سترګې پټولې.

۞ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۗ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ
أَفَلَا تَتَّقُونَ ٦٥

او عادیانو ته مو د هغوی ورور هود ورواستاوه  چې ورته یې وویل: ای زما قومه! د الله تعالی عبادت وکړئ، له هغه نه غیر ستاسو بل هیڅ خدای نشته، نو آیا پرهیزګاری نه کوئ( او د خپل  واحد رب په عبادت سره له هر ډول شر او فساد نه ځانونه نه ژغورئ؟)

قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي سَفَاهَةٖ
وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٦٦

د هغه د قوم کافرو مشرانو وویل: مونږ ته خو ته بیخی بې عقله ښکارې( چې د پلار نیکه دود دستور دې پرې ایښی) او دروغجن هم یې( چې خپلې خبرې الله تعالی ته منسوبوې او  مونږ له عذابه ویروی).

قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي سَفَاهَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٧

هغه وویل: ای زما قومه! زه بې عقله او ناپوهه نه یم  بلکه د رب العالمین  له خوا را استول شوی پیغمبر یم.

أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنَا۠ لَكُمۡ نَاصِحٌ أَمِينٌ ٦٨

د خپل رب پیغام تاسو ته رسوم او ستاسو لپاره یو امین نصیحت کوونکی یم.

أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡۚ
وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ جَعَلَكُمۡ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعۡدِ قَوۡمِ نُوحٖ وَزَادَكُمۡ فِي
ٱلۡخَلۡقِ بَصۜۡطَةٗۖ فَٱذۡكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٦٩

آیا دا درته د حیرانتیا وړ ده چې ستاسو د خپل قوم  یو سړی درته  له الهی وحې سره راځی( او د کفر او شرک له ناوړه عاقبت او انجام نه مو) ویروی. د الله تعالی هغه نعمت یاد کړئ چې تاسو یې د نوح له قوم نه وروسته د ځمکې د خلافت  او واکمنی لپاره غوره کړئ او تاسو ته یې په خلقت کې (بې مثاله او ځانګړی) جسمانی  قد و قامت او  قوت درکړی( چې د تر ټولو لوړ سړی لوړوالی مو سل ګزه او د ټیټ سړی قد، مو شپیته ګزه  دی) نو د الله تعالی نعمتونه په یاد ساتئ تر څو( یې له عذابه) په امن کې پاتې شئ.

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ
ءَابَآؤُنَاۖ فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٧٠﴾

**قوم يې وويل: آيا د دې لپاره راغلى يې چې په مونږ باندې يوازې د يوه خداى عبادت ومنې او مونږ هغه بتان پريږدو چې پلرونو او نيكونو مو ورته د پرستش او عبادت سجدې كولې. كه واقعاً رښتينى يې نو هغه عذاب رانازل كړه چې مونږ ترې ويروې.**

قَالَ قَدۡ وَقَعَ عَلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ رِجۡسٞ وَغَضَبٌۖ أَتُجَٰدِلُونَنِي
فِيٓ أَسۡمَآءٖ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن
سُلۡطَٰنٖۚ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾

**هود وويل: آيا د هغو (بې هويته) نومونو په باب له ما سره بحث او مجادله كوئ چې تاسو او پلرونو نيكونو مو له ځانه جوړ كړى او الله تعالى يې د حقانيت لپاره هيڅ دليل او حكم نه دى صادر كړى؟ د الله تعالى عذاب ته سترګې په لار اوسئ او مونږ به هم درسره منتظر شو.**

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَقَطَعۡنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِنَاۖ وَمَا كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٧٢﴾

**(نو د سختې سيلۍ او طوفان عذابورباندې نازل شو چې اوه شپې او اته ورځې روان و) مونږ پخپل رحمت سره هود او پيروانو ته يې نجات وركړ او د هغو كسانو جرړې مو وويستې چې زمونږ آيتونه يې دروغ ګڼل(او د الله تعالى په توحيد او د هود په نبوت يې) ايمان نه و راوړى.**

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًاۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم
مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ
ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةًۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِيٓ أَرْضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا
بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾

**( او د پیغمبرانو په سلسله کې مو) ثمودیانو ته د هغوی ورور صالح ورواستاوه چې خپل قوم ته یې وویل: ای زما قومه! د الله تعالی عبادت وکړئ او یوه شئ چې له هغه نه غیر بل خدای نه لرئ. تاسو ته مو د رب له لوری روښانه معجزه او دلیل راغلی، دغه( عظیم الجثه) اوښه د الله تعالی له لوری، تاسو ته(د رب د قدرت او زما د رسالت د حقانیت یوه فوق العاده) نښه ده( چې ستاسو په غوښتنه له وچې تیږې پیدا شوې ده) نو پخپل حال یې پرېږدئ چې د الله په ځمکه هر چیرې چې غواړی وڅری او هیڅ ضرر ورته مه رسوئ، که نه، له دردناک عذاب سره به مخامخ شئ.**

وَٱذْكُرُوٓاْ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِي
ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ
بُيُوتًاۖ فَٱذْكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْاْ فِي ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾

**او( د الله تعالی دا ښیګڼه) یاد ساتئ چې تاسو یې د عادیانو، ځای ناستی وټاکلئ او په ځمکه کی یې درته د ژوند مناسب شرایط برابر کړل چې په هوارو کی یې هسکې ماڼۍ جوړوئ او په غرونو کی یې هم د کورونو جوړولو لپاره کیندنې کوئ. نو د الله تعالی نعمتونه په یاد لرئ او په ځمکه کې د فساد او تخریب هلې ځلې مه کوئ.**

قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ
لِمَنْ ءَامَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦۚ قَالُوٓاْ
إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾

د قوم  متکبرو اشرافو او سردارانو يې( د استهزاء په توګه) کمزورو مؤمنانو ته وويل: آيا باور مو راځی چې صالح به يې د رب له لوری په پيغمبری مبعوث شوی وی؟ مؤمنانو وويل: مونږ په هغه پيغام چې دی يې په رسولو مامور شوی ايمان لرو.

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا بِٱلَّذِىٓ ءَامَنتُم بِهِۦ
كَٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾

متکبرو سردارانو وويل: مونږ له هغه( دين او قانون) څخه چې تاسو ورباندې ايمان راوړی، کافر او منکر يو.

فَعَقَرُوا۟ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوْا۟ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا۟ يَٰصَٰلِحُ ٱئْتِنَا بِمَا
تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾

نو د خپل رب له فرمان نه يې په بغاوت سره، اوښه( په بې رحمۍ) ووژله او صالح ته يې (په ګواښ سره) وويل: که ته په رښتيا هم پيغمبر يې نو رانازل کړه هغه  عذاب دې چې تل پرې مونږ ډاروې).

فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٧٨﴾

نو( شيبه وروسته بيا د يوې مهيبې او زړه بوګنوونکې چيغې په انګازو) او سختې زلزلې(په ټکانونو سره) تول په خپلو خپلو کورونو کې پرمخې مړه پراته وو.

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّى وَنَصَحْتُ
لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٧٩﴾

صالح (لا له عذاب نه وړاندې) په تلو تلو کې ورته وويل:ای زما قومه!  ما د خپل رب پيغام تاسو ته ورساوه او نصيحتونه  مې هم درته وکړل خو (افسوس) چې تاسو نصيحت کوونکی هم نه خوښوئ.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ
مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾

(او ای پيغمبره! دوی ته) د لوط قصه وریاد کړه چې خپل قوم ته يې وويل: آيا  د دومره بد او قبيح عمل مرتکب کيږئ چې ستاسو نه وړاندې په نړۍ کې هيچا نه و کړی.

إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾

تاسو د خپلو ښځو په ځای له نارینه و سره د خپل شهوت غریزه سړوئ( په دغه خلاف الفطرت عمل سره د انسانیت حدود ماتوئ) او په مسرفینو کې شمیرل کیږئ.

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾

د قوم یوازینی ځواب ورته دا و چې (یو بل ته یې) وویل: لوط او ملګری یې له خپلو کلیو نه وشړئ ځکه دوی ځانونه پاک او سپیڅلی ګڼی( او مونږ ته پلید او نجس وایی او کرکه رانه کوی).

فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾

نو( بیا چې د یوه سهار په  سپیده داغ کې زمونږ عذاب د سدوم په ښار نازلیده) لوط، د هغه ملګرو او کورنۍ ته مو نجات ورکړ خو ښځه یې چې کافره وه( په تباه کیدونکو کفارو کې) پاتې شوه.

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾

او په هغوی مو د عذاب باران راووراوه( خو عادی باران نه بلکه« امطرنا علیهم حجارة من سجیل» یعنې د کلالی پخو تیږو باران.)نو وګوره چې د مجرمینو او سرغړوونکو پای او عاقبت بیا څنګه و؟

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۗ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا
لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ قَدۡ جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ مِّن
رَّبِّكُمۡۖ فَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ وَلَا تَبۡخَسُواْ
ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ
إِصۡلَٰحِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٨٥

**او د مدین اوسیدونکو ته مو د هغوی( قومی) ورور شعیب ورواستاوه چې خپل قوم ته یې وویل: د الله تعالی عبادت وکړئ، له هغه نه غیر مو بل خدای نشته. تاسو ته د خپل رب له لوری( زما د صداقت په باب) روښانه دلیل راغلی، نو پیمانه او تول پوره پوره ورکړئ او خلکو ته د هغوی د اجناسو او اموالو په تللو کې زیان مه وراړوئ او په ځمکه کې هغه سوله او امن( چه د پیغمبرانو په رسالت سره تأمین شوی) مه ګډوډوئ او فساد پکې مه خپروئ. همدا دی ستاسو لپاره غوره او د خیر کارونه، که مؤمنان یاست.**

وَلَا تَقۡعُدُواْ بِكُلِّ صِرَٰطٖ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ
ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَتَبۡغُونَهَا عِوَجٗاۚ وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ
كُنتُمۡ قَلِيلٗا فَكَثَّرَكُمۡۖ وَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ
ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٨٦

**او په لارو کې( د مسافرو ) په مالونو ظالمانه ډاکې مه اچوئ او(خلک ) د الله تعالی له لارې( او زما له ملاقات نه) مه منع کوئ او د الله تعالی حقه او مستقیمه لاره ورته کږه او منحرفه مه معرفی کوئ، او هغه وخت یاد کړئ چې تاسو د (شمیر او قوت) له لحاظه ډیر کمزوری واست خو الله تعالی مو شمیر زیات او پیاوړی کړ،**

نو (په دقت او تأمل سره) وګورئ چې مفسدین او جنایت کاران له څه ډول( ناوړه) انجام او عاقبت سره مخ شول ؟

وَإِن كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنكُمْ ءَامَنُواْ بِٱلَّذِىٓ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُواْ فَٱصْبِرُواْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٧﴾

که ستاسو ځیني خلک زما په رسالت او راوړې پیغام ایمان ولري او بله ډله ایمان ونه لري( او دښمنی ته ملا وتړي) نو په هرحال صبر وکړئ ترڅو الله پاک زمونږ تر منځ پریکړه وکړي، بیشکه چې الله تعالی تر ټولو ښه او غوره فیصله کوونکی دی.

۞ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِۦ لَنُخْرِجَنَّكَ يَٰشُعَيْبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ۚ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾

د قوم مشرانو او اشرافو( چې د حق د منلو په ځای یې) د تکبر او انکار لاره نیولې وه وویل: که زمونږ دین او قانون ته بیرته را ونه ګرځي، تا او پیروان به دې له دې ښاره وباسو. هغه وویل: آیا( د هغې عقیدې او قانون منلو ته مو اړباسئ) چې مونږ ترې کرکه کوو؟

قَدِ ٱفْتَرَيْنَا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِى مِلَّتِكُم بَعْدَ إِذْ نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا ٱفْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِٱلْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْفَٰتِحِينَ ﴿٨٩﴾

او سره له دې چې الله تعالی راته( له شرک او کفر نه) نجات راکړی، که بیرته ستاسو باطل دین او قانون ته وروګرځو، نو په الله تعالی به مو ډیر لوی دروغ او تومت تړلی وي. او دا ناشوني ده چې مونږ دې بیرته

ستاسو دین ته دراواړو، مګر دا چې( فرضاً د کوم یو تن په باب) زمونږ د رب الله تعالی فیصله وشی( او الله تعالی هم هیڅکله چاته د شرک او کفر د منلو امر نه کوی) زمونږ د رب علم په ټولو مسلط او حاکم دی او زمونږ توکل هم یوازې په الله تعالی دی. ای زمونږ ربه! ته زمونږ او زمونږ د قوم ترمنځ په حقه فیصله وکړه، بیشکه چې ته تر ټولو ښه او غوره فیصله کوونکی یې.

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعۡتُمۡ شُعَيۡبًا إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ٩٠

او د قوم کافرو سردارانو او اشرافو یې( خلکو ته) وویل: که د شعیب پیروی وکړی نو سخت زیان به ووینئ.

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٩١

نو ناڅاپه ورباندې یوه سخته زلزله راغله او دوی ټول، کور په کور پړمخې( مړه) پریوتل.( د بیلابیلو آیتونو په استناد، د شعیب علیه السلام په قوم باندې عذاب درې مرحلې درلودې: لومړی ظله یا د وریځو سیوری و چې ځمکه تیاره او د اور سکروټې وریدې.دویمه صیحه وه چې له آسمانه ویروونکی او زړه بوګنوونکی غږونه اوریدل کیدل او دریمه مرحله بیا رجفه یا زلزله وه چې ټول پکې تباه شول).

ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبٗا كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَاۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبٗا كَانُواْ هُمُ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٩٢

هغه خلک چې د شعیب دعوت یې دروغ ګڼلی و داسې هلاک او تس نس شول لکه چې بیخی په دې ښار کې اوسیدلی نه وو. هو په حقیقت کې هماغه خلک زیانمن شول چې د شعیب رسالت یې دروغ ګڼلی و.

فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡۖ فَكَيۡفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ٩٣

نو شعیب له هغوی نه مخ ستون کړ او ورته یې وویل: ای قومه ما د خپل رب پیغامونه او احکام تاسو ته ورسول او نصیحتونه مې هم درته وکړل نو اوس ولې د کافرانو په هلاکت باندې د غم او افسوس اوښکې توی کړم؟

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ
وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَضَّرَّعُونَ ٩٤

او کله چې هم مونږ کوم کلی( ښار) ته خپل استازی لیږلی( او د خلکو له خوا ورسره دښمنی شوی او دروغجن یې ګڼلی) نو د سیمې اوسیدونکی مو په سختیو او ستونزو( لوږه، فقر او ناروغیو) اخته کړی تر څو بیرته خپل رب ته عذر او زاری وکړی.

ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلۡحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ وَّقَالُواْ قَدۡ مَسَّ
ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٩٥

( او کله چې هغوی په دغو مصیبتونو هم د غفلت له خوبه ویښ نه شول او توبه یې و نه ویسته) نو بیا مو ورله بدبختی او بې وزلی په داسې سوکالی او نیکمرغی بدله کړه( چې شمیر او قدرت یې زیات او د ډول ډول نعمتونو پریمانی وربانډې راغله، خو سره له دې یې هم عبرت وانخست ) بلکه ویې ویل چې دا سختی او سوکالی زمونږ په پلرونو او نیکونو هم په طبیعی توګه راغلی او تیرې شوی( او زمونږ او پیغمبرانو په کشمکشونو پورې هیڅ اړه نه لری) نو بیا مو په ناڅاپی توګه په داسې عذاب اخته کړل چې په خیال او تصور کې یې هم نه ګرځیده.

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ
ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ٩٦

که د ښارونو او آبادیو اوسیدونکو ایمان راوړی وی (او له کفر او ګناهونو نه یې ځانونه ساتلی وی) او د تقوا لاره یې خپله کړی وی نو مونږ به هم د آسمان او ځمکې برکتونه وربانډې لورولی وی، خو هغوی (الهی آیتونه او پیغمبران) دروغ وګڼل او مونږ هم ورته د ناوړو اعمالو سزا ورکړه.

أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ نَآئِمُونَ ٩٧

آیا د کلیو( او ښارونو) اوسیدونکی( چې د پیغمبرانو د دعوت په مقابل کې یې کفر او عناد نور هم زیات شوی) زمونږ له هغه عذاب نه په امن دی چې د شپې مهال به چې دوی په آرام خوب ویده وی، وربانډې نازل شی؟

أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ ٩٨

او يا دغه د كليو (او ښارونو) اوسيدونكی زمونږ له هغه عذاب نه په امن دی چې په رڼا ورځ به چې دوی په لوبو( او منډو ترړو) مصروف وی ورباندې نازل شی؟

أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٩٩

آيا دوی د الله تعالی له تدبير( يعنی ناګهانی عذاب او مجازات) نه خلاصيدی شی؟ بلكه هغه كسان د الله تعالی له ناڅاپی عذاب نه غافل او بې فكره كيږی(چې د عيش او تنعم په نيشه كې مست او د قيامت د حساب كتاب او مجازات غم ورسره نشته او په حقيقت كې) له سخت زيان سره مخامخ دی.

أَوَلَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ أَهۡلِهَآ أَن لَّوۡ نَشَآءُ أَصَبۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡۚ وَنَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ١٠٠

آيا هغو خلكو ته چې له خپلو اسلافو نه ورته د ځمكې خلافت او واكمنی ورپاتې ده، څرګنده شوې نه ده چې كه مونږ اراده وكړو، دوی ته به( د پخوانيو په شان) د ګناهونو سزا وركړو او په زړونو به ورته( داسې) مهرونه ولګوو چې(د حق هيڅ آواز) به نشی اوريدی.

تِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآئِهَاۚ وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ مِن قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٠١

دا هغه كلی( او ښارونه) دی چې ځينې داستانونه يې مونږ تاته اوروو( چې څنګه يې اوسيدونكی، د الهی دعوت په مقابل كی د ضد او عناد له كبله په مصيبتونو اخته شول) او بيشكه چې پيغمبرانو يې ورته روښانه دلايل او انكار نه منونكې معجزې راوړې خو دوی پخپل پخوانی ضد او تكذيب ټينګار كاوه، او ايمان راوړونكی نه وو. په دې توګه الله تعالی د( لجوجو) كافرانو په زړونو مهرونه لګوی( او د ګناهونو د تكرار له امله ورڅخه د حق د تشخيص احساس سلبوی).

وَمَا وَجَدۡنَا لِأَكۡثَرِهِم مِّنۡ عَهۡدٖۖ وَإِن وَجَدۡنَآ أَكۡثَرَهُمۡ
لَفَٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾

مونږ د دوی په زیاتره خلکو کې د ژبې او تعهد ارزښت و نه مینده(وعده کوی چې د معجزو په لیدلو به ایمان راوړی خو بیا پخپل عهد او پیمان پښې ږدی) بلکه بدکاران او فاسقین هم دی.

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَظَلَمُواْ بِهَاۖ
فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿١٠٣﴾

(له دغو پیغمبرانو نه) وروسته مو، موسی له خپلو معجزو او روښانه دلایلو سره، فرعون او د هغه د قوم مشرانو او اشرافو ته ورواستاوه خو هغوی د الهی دعوت په مقابل کې د ظلم او انکار لاره غوره کړه نو په دقت او تأمل وګوره چې مفسدین او جنایت کاران په څه ناوړه عاقبت اخته شول؟

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرۡعَوۡنُ إِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾

او موسی وویل: ای فرعونه! بیشکه چې زه د رب العالمین له لوری د پیغمبر په حیث رالیږل شوی یم.

حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ قَدۡ جِئۡتُكُم بِبَيِّنَةٖ
مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَرۡسِلۡ مَعِيَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾

او راباندې لازمه ده چې د الله تعالی له قوله یوازې حقه خبره وکړم. بیشکه چې زه تاسو ته، ستاسو د رب له لوری، له لویې معجزې سره راغلی یم( چې زما د رسالت په حقانیت دلالت کوی) نو بنی اسرائیل( د غلامۍ او اسارت نه آزاد کړه ) او اجازه ورکړه چې زما سره( خپل پلرنی ټاټوبی شام ته) لاړ شی.

قَالَ إِن كُنتَ جِئۡتَ بِـَٔايَةٖ فَأۡتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾

(فرعون) وویل: که( د خپلې پیغمبرۍ په ادعا کې) رښتینی یې او کومه نښه او معجزه دې راوړی وی نو راوړاندې یې کړه.

فَأَلۡقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعۡبَانٞ مُّبِينٞ ﴿١٠٧﴾

نو (موسی) خپله امسا میدان ته وغورزوله چې( د سترګو په رپ کې) په ژوندی ښامار بدله شوه.

وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيۡضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾

او چې لاس يې (ګریوان ته ننویست اوبیرته یې) راوویست نو ټولو حاضرینو ته روښانه او نوراني ځلیده.

قَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٞ ﴿١٠٩﴾

د فرعون د قوم مشرانو( او پخپله فرعون) وويل: دی پوخ او مجرب کوډګر دی( او کار یې معجزه نه ده).

يُرِيدُ أَن يُخۡرِجَكُم مِّنۡ أَرۡضِكُمۡۖ فَمَاذَا تَأۡمُرُونَ ﴿١١٠﴾

صرف هدف یې دا دی چې تاسو( قبطیان) له خپل هیواد(مصر) نه بې ځایه او سرګردانه کړی، نو( فرعون د هیواد چارواکو او مشرانو ته وویل) د ده په باب مو مشوره څه ده؟

قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ وَأَرۡسِلۡ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾

( سردارانو) وويل: ښه به دا وی چې دی او ورور یې منتظر وساتې او ښارونو ته( سپاهیان او جارچیان) واستوې.

يَأۡتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ ﴿١١٢﴾

چې ټول پوه او مجرب ساحران تاته حاضر کړی.

وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرۡعَوۡنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾

او( کله چې) ساحران د فرعون دربار ته راغلل مطالبه یې وکړه چې که مونږ میدان وګټو او برلاسی شو باید لویه جایزه راکړی شی.

قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ لَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾

فرعون وويل: هو( او بلکه) تاسو ته به د خاصو درباریانو او مقربینو امتیاز او رتبه هم درکړی شی.

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ ﴿١١٥﴾

نو جادوګرانو( په غرور سره موسی ته مخ ور واړاوه) ویې ویل: ای موسی: ته به لومړی (خپله امسا) میدان ته راغورزوې که مونږ( خپلې رسی) وغورزوو (او خپل ساحرانه قوت د حاضرینو ننداری ته وړاندې کړو؟)

قَالَ أَلْقُوا۟ ۖ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ سَحَرُوٓا۟ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ
وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾

موسی وویل: هرڅه چې لرئ راوېي غورزوئ، او کله چې هغوی خپل جادويي وسايل( ميدان ته) راوغورزول په خلکو يې چشم بندی وکړه او سخت يې وويرول، بيشکه چې دا د سحر يوه ستره ننداره وه (چې نمايش ته يې وړاندې کړه).

۞ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا
يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾

او موږ موسی ته وحی وکړه چې وغورزوه خپله امسا.( او بيا خلکو ليدل چې له امسا نه يو لوی ښامار جوړ و او) د جادوګرانو ټولې( رسۍ او د چشم بندۍ) کاذبانه وسايل يې له خپل کومې تير کړل.

فَوَقَعَ ٱلْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾

نو حق( يعنې د موسی صداقت) ثابت شو او د جادوګرانو ټول وسايل او ابزار پوچ او باطل وختل.

فَغُلِبُوا۟ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُوا۟ صَـٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾

(فرعون او فرعونيان) دلته مغلوب، ذليل او ټيټ سرونه له ميدانه ووتل.

وَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَـٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾

او ټول ساحران( د دې لويې معجزې په ليدلو او د خپلو جادويي ټوټکو په ناکاميدو) سملاسی( د الله تعالی حضور ته) په سجدو پريوتل.

قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾

ويل يې: (د زړه له اخلاصه) مو ايمان راوړی په رب العالمين.

رَبِّ مُوسَىٰ وَهَـٰرُونَ ﴿١٢٢﴾

په رب د موسی  او هارون.

قَالَ فِرۡعَوۡنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكۡرٞ مَّكَرۡتُمُوهُ
فِي ٱلۡمَدِينَةِ لِتُخۡرِجُواْ مِنۡهَآ أَهۡلَهَاۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿١٢٣﴾

فرعون وويل: آيا زما بې اجازې مو( په موسى) ايمان راوړ؟ دا( زما د حکومت د نسکورولو لپاره ستاسو او موسى) ګډه دسيسه او توطئه ده او غواړى د دغه هيواد اصلى اوسيدونکى (قبطيان) بې کوره او وشړى( او تاسو سبطيان او اسرائيليان د هيواد واکداران شئ) خو زر به پوه شئ (چې څه ډول سزا درکوم؟)

لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمۡ
أَجۡمَعِينَ ﴿١٢٤﴾

(قسم دى چې) لاسونه او پښې مو چپ او راست پرې کړم او بيا ټول (شل شوټ) په دار هم وځړوم.

قَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾

جادوګرانو( په ايمانى قوت او جذبه ورته) وويل:(ستا هر ډول سزا به په مونږ زر تيره شى او بيا) د خپل رب حضور ته ورګرځو( او رحمت ته يې اميدواره يو).

وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنۡ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتۡنَاۚ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ
عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَتَوَفَّنَا مُسۡلِمِينَ ﴿١٢٦﴾

ته له مونږ نه يوازې د همدې کار انتقام اخلې چې( الهى فرمان ته مو لبيک ويلى او) د خپل رب په را استول شويو معجزو مو ايمان راوړى.( وروسته يې د دعا لاسونه اوچت کړل او ويل يې:) اى زمونږ ربه د لوى صبر او ثبات نعمت را په برخه کړه او مرګ مو د مسلمانانو په حيث نصيب کړه.

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوۡمَهُۥ لِيُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا
فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾

او د فرعون د قوم سردارانو( فرعون ته) وويل: آيا موسى او د هغه قوم دې داسې خپل سرى ته پرى ايښى چې( د مصر) په ځمکه کې( په خلاص مټ)فساد او ګډوډى جوړه کړى او ستا او خدايانو څخه دى مخ

وګرځوی؟ ( فرعون) وویل: زامن به يې له يوې مخې له تيغه تير کړم او لوڼه به يې( د وينځو په حيث) وساتم او مونږ( قبطيان) په دغو (سبطيانو) ښه پوره برلاسی يو.

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَـٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾

موسی خپل قوم ته وويل: له الله تعالی نه مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، بیشکه چې د ځمکې مالکيت او سلطنت يوازې د الله تعالی دی او پخپلو بندګانو کې چې يې هر چاته اراده وشی وریښنی يې، او نیک عاقبت او انجام یوازې د پرهيزګارانو په برخه دی.

قَالُوٓا۟ أُوذِينَا مِن قَبْلِ أَن تَأْتِيَنَا وَمِنۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾

هغوی وويل: مونږ ستا له راتلو نه وړاندې هم ( د فرعون) د زجر او شکنجو لاندې وو او ستا له راتګ نه وروسته هم( د هغوی د ظلم په ژرنده دل کيږو). (موسی) وويل: امید دی چې رب به مو دښمنان هلاک او تباه کړی او تاسو به د هغوی په ځای د دی هیواد واکداران وټاکی او بیا به ستاسو اعمال او کړنې تر نظارت او ازمیښت لاندې ونیسی.

وَلَقَدْ أَخَذْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾

او فرعونيان مو په وچکالۍ او قحطۍ او د ميوو( او غلو دانو) په سخت کمبود اخته کړل، تر څو پند او عبرت واخلی.

فَإِذَا جَآءَتْهُمُ ٱلْحَسَنَةُ قَالُوا۟ لَنَا هَـٰذِهِۦ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا۟ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ ۗ أَلَآ إِنَّمَا طَـٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾

**( خو نه یوازې دا چه پند یې وانخست، بلکه) چې هوسایی او سوکالی به وربانديې راغله، نو ویل به یې چې (دا خو زمونږ د برترئ او لیاقت برکت دی او) مونږ یې مستحق یو، او که کوم مصیبت او آفت به ورته ورسید نو د موسی او ملګرو بد قدم به یې ګڼله، آګاه اوسئ چې خیر او شر( سوکالی او مصیبتونه) ټول د الله تعالی له خوا دی خو زیاتره کسان یې وربانديې نه پوهیدل.**

وَقَالُواْ مَهۡمَا تَأۡتِنَا بِهِۦ مِنۡ ءَايَةٖ لِّتَسۡحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ١٣٢

**او فرعونیانو وویل: ای موسی! که زمونږ د تابع کولو لپاره هر ډول ( سخت جادو او دلایل) مونږ ته راوړې، بیا هم دربانديې ایمان، نه راوړو.**

فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلۡجَرَادَ وَٱلۡقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٖ مُّفَصَّلَٰتٖ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ١٣٣

**نو مونږ وربانديې( د خپل قدرت د جلا جلا نښانو په حیث) طوفان، ملخان،سپږکی( وربوږي او فصل تباه کوونکی چینجیان) چونګښې او وینه ورحواله کړل خو بیا یې هم له تکبر څخه لاس وانخست، او دا یو ستر جنایت کار او ګناهکار قوم و.**

وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيۡهِمُ ٱلرِّجۡزُ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَۖ لَئِن كَشَفۡتَ عَنَّا ٱلرِّجۡزَ لَنُؤۡمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرۡسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ١٣٤

**کله چې به وربانديې سخت عذاب نازل شو نو موسی ته به یې ویل (چې تاته خو دې رب د عزت مقام درکړی او دعا دې هم مستجابه ده ) نو دعا ورته وکړه چې که له دې عذابه مو خلاص کړی، مونږ به هم په تا ایمان راوړو او هم به بنی اسرائیل ستاسره واستوو.**

فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلرِّجۡزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ١٣٥

**خو چې تر یوې ټاکلې مودې به مو ترې عذاب دفع کړ، بیرته به یې خپل ټول تعهدات مات کړل.**

فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ
عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ١٣٦

نو بالاخره ترې مونږ هم( د وعده ماتولو)انتقام واخست او په دریاب کې مو ډوب کړل، ځکه دوی زمونږ آیتونه دروغ ګڼل ( او له ټولو معجزاتو او نښانو نه) غافل او بې پروا شوی وو.

وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ
وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ
إِسۡرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْۖ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ
وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ١٣٧

او د ( فلسطین) ختیځې او لویدیځې برخې مو( چې حاصلخیزې او له ډول ډول نعمتونو او) برکتونو ډکې وې، مستضعفو او مظلومو بنی اسرائیلو ته وسپارلې، د دوی د صبر او زغم د ګاللو په مقابل کې مو ورسره خپله وعده پوره کړه او د فرعون او فرعونیانو ټولې لوړې مانۍ( او ګڼ ګور سمسور باغونه) مو له خاورو سره خاورې کړل.

وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ
لَّهُمۡۚ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ
تَجۡهَلُونَ ١٣٨

او بنی اسرائیل مو( د فرعون له ظلم او بربریت نه خلاص او روغ رمټ مو د قلزم) له سیند نه تیر کړل،بیا د لارې په اوږدو کې په هغه قوم ورغلل چې بتانو ته په سجدو پراته وو او د هغو عبادت یې کاوه، نو (بنی اسرائیلو) له موسی نه غوښتنه وکړه چې د دغو خلکو د خدایانو په شان، مونږ ته هم یو خدای جوړ کړه.
موسی ورته وویل: دا ډول غوښتنه خو ستاسو په سخت جهالت او ناپوهۍ دلالت کوی.

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٣٩

دغه( د شرک او بت پرستۍ ټول وسایل او) اعمال باطل او بابیزه دی او بالاخره به د دوی د تباهۍ سبب کیږی.

قَالَ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٠﴾

**( موسی په حیرانتیا دا هم ) وویل: آیا (د کائناتو د رب) الله تعالی په مقابل کې، تاسو ته بل خدای ولټوم، په داسی حال کې چې الله تعالی تاسو ته( د دې عصر) په ټولو نړیوالو برتری او امتیاز درکړی دی.**

وَإِذْ أَنجَيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ
ٱلْعَذَابِ ۖ يُقَتِّلُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم
بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿١٤١﴾

**او تاسو يې د فرعونيانو( له ظلم او وحشت) نه راخلاص کړی، هغوی چې په تاسو ته به يې سخت عذاب او شکنجې درکولې، ځامن به يې درله، له تيغه تيرول او لوڼه به يې درله( د وينزو په حيث) ساتلې، خو په دی ټولو کړاوونو او زورولو کې، ستاسو لپاره د رب لوی ازميښت پروت و.**

۞ وَوَٰعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَٰتُ
رَبِّهِۦٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخْلُفْنِى فِى
قَوْمِى وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤٢﴾

**او له موسی سره مو( د عبادت او مناجات او د تورات د تعليماتو د ورکولو او تربيت لپاره د طور په غره کې)د ديرشو شپو(د پاتې کيدو) وعده وکړه، بيا مو ورته لس شپې نورې هم( د خپل رب سره د راز او نياز) موده اوږده کړه چې څلويښتو شپو ته ورسيده. (او کله چې موسی د عبادت او مناجات ټاکلی ځای ته روانيده) خپل ورور هارون يې خپل ځايناستی وټاکه او سپارښتنه يې ورباندی وکړه چې زما د خليفه په حيث د قوم لارښوونه کوه او ګوره چې د مفسدينو په لار لاړ نشې.**

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِىٓ أَنظُرْ إِلَيْكَ ۚ
قَالَ لَن تَرَىٰنِى وَلَٰكِنِ ٱنظُرْ إِلَى ٱلْجَبَلِ فَإِنِ ٱسْتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوْفَ
تَرَىٰنِى ۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا ۚ
فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبْحَٰنَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٤٣﴾

**او کله چې موسی زمونږ تاکلی میقات ته راغی او رب یې ورسره (مستقیمی او بې واسطه) خبرې وکړې(هغه او د بنی اسرائیلو اویاو تنو مشرانو له هر لوری د الله تعالی خبرې اوریدی، ناڅاپه موسی ته د الله تعالی د دیدار او شرفیابی مینه او تلوسه هم پیدا شوه او) عرض یې وکړ: ای ربه!( ستا احکام مې واوریدل خو) داسې قوت هم راکړه چې تا ووینم . الله تعالی وفرمایل: ته( په دنیا کې) ما نشې لیدی، خو هغه پورې غره ته وګوره که یې زما د نور د تجلی تاب راوړ او پخپل ځای ثابت پاتې شو، ته به هم ما ولیدی شې. نو کله چې د الله تعالی د نور وړانګې په غره ورپریوتې، ذره ذره او له خاورو سره خاورې شو او موسی هم بې حاله او بې هوښه راپریوت. شیبه وروسته چې بیرته په حال شو، ویل یې سبحان الله، ای پاکه ربه تاته مې توبه ده او زه ( د خپل عصر) لومړنی مؤمن یم چې ستا په عظمت او جلال ایمان لرم.**

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّى ٱصْطَفَيْتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِى وَبِكَلَٰمِى فَخُذْ مَآ
ءَاتَيْتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾

**(الله تعالی) وفرمایل: ای موسی(زما نعمتونه یاد ساته) چې تاته مې پخپل رسالت او درسره په مستقیمو خبرو کولو، ( د عصر) په ټولو خلکو برتری او فضیلت درکړی نو هغه احکام( چې په تورات کې) تاته درکړی شوی، واخله( ابلاغ او تطبیق یې کړه او تل د الله تعالی په نعمتونو او لورینو) شکر کوونکی اوسه.**

وَكَتَبْنَا لَهُۥ فِى ٱلْأَلْوَاحِ مِن كُلِّ شَىْءٍ مَّوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا
لِّكُلِّ شَىْءٍ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا۟ بِأَحْسَنِهَا ۚ سَأُو۟رِيكُمْ دَارَ
ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿١٤٥﴾

**او هغه ته مو( د خلکو د ضرورت او هدایت د تأمین ټول نصایح او د حلال او حرام احکام) د تورات په لوحو باندې لیکلی ورکړل، او ورته مو وویل: دغه احکام په پوره قوت( او ټینګ عزم سره) درواخله( او ابلاغ یې کړه) او خپل قوم ته امر وکړه چې تر ټولو په بهترو او افضلو( اجر لرونکو) نصیحتونو یې عمل وکړی. زر ده**

چې د فاسقانو( فرعونيانو،عمالقه و، عاديانو، ثموديانو او د لوط د قوم کنډواله شوی استوګنځی او نړيدلی او تباه شوی قصرونه او) سيمې تاسو ته دروښيم، (تر څو د هغو له ليدلو عبرت واخلئ).

سَأَصْرِفُ عَنْ ءَايَـٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَإِن
يَرَوْا۟ كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا۟ بِهَا وَإِن يَرَوْا۟ سَبِيلَ ٱلرُّشْدِ لَا
يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا وَإِن يَرَوْا۟ سَبِيلَ ٱلْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ۚ ذَٰلِكَ
بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا وَكَانُوا۟ عَنْهَا غَـٰفِلِينَ ﴿١٤٦﴾

هغه کسان چې په ځمکه کې په ناحقه سرکشی او تکبر کوی، زه به يې د خپلو آيتونو( له پوهې) نه منع او منصرف کړم( او په داسې مصيبت به يې اخته کړم چې) الهی آيتونه او دلايل به ښه وينی، خو ايمان به نه راوړی، د هدايت لاره به ډيره ښه پيژنی خو بيا به هم ورباندې نه ځی او چې د ګمراهۍ لار( او ګړنګ) ووينی( په غړيدلو سترګو او د زړه په مينه به) وردانګی. ( د دې سزا وجه داده چې دوی قصداً) زمونږ آيتونه تل دروغ ګڼلی او ځانونه يې د غفلت او بې خبرۍ په خوب ويده اچولی دی.

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلْـَٔاخِرَةِ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ ۚ هَلْ
يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٤٧﴾

هغه کسان چې زمونږ آيتونه دروغ ګڼی او د قيامت له احضار( او حساب کتاب) نه منکريږی ټول نيک اعمال يې باطل او باد وړی دی، خو صرف (د هغو کفری اعمالو او ګناهونو) بدله او جزا به ورکړی شی چې په دنيا کې يې سرته رسول.

وَٱتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعْدِهِۦ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ ۚ
أَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّهُۥ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيهِمْ سَبِيلًا ۘ ٱتَّخَذُوهُ وَكَانُوا۟
ظَـٰلِمِينَ ﴿١٤٨﴾

او( طور ته) د موسی له تللو وروسته د هغه قوم د خوسکی د هغې مجسمې عبادت پيل کړ (چې سامری ورته) د دوی له ګاڼو او زيوراتو نه جوړه کړه او د خوسی آواز به ترې راپورته کيده، آيا دوی نه پوهيدل چې دا(

مجسمه) ورسره نه خبرې کوی او نه ورته کومه لاره سمولی شی؟ خو بیا یې هم په خدایی ونیو او پخپلو ځانو
یې سخت ظلم او تیری وکړ.

وَلَمَّا سُقِطَ فِىٓ أَيْدِيهِمْ وَرَأَوْا۟ أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا۟ قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ
يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

او کله چې بیرته پخپل عمل پښیمانه شول او د خوسی بطلان او خپلې گمراهۍ ته یې پام شو نو ویې ویل که
زمونږ رب په مونږ مهربان نشی او ببښنه راته ونه کړی، له لوی زیان سره به مخامخ شو.

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِى مِنۢ
بَعْدِىٓ ۖ أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ ۖ وَأَلْقَى ٱلْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ
يَجُرُّهُۥٓ إِلَيْهِ ۚ قَالَ ٱبْنَ أُمَّ إِنَّ ٱلْقَوْمَ ٱسْتَضْعَفُونِى وَكَادُوا۟ يَقْتُلُونَنِى فَلَا
تُشْمِتْ بِىَ ٱلْأَعْدَآءَ وَلَا تَجْعَلْنِى مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾

او موسی( چې الله تعالی ورته د وحې په وسیله د بنی اسرائیلو د گمراهی او د خوسی د عبادت خبر ورکړی و)
د سختې غوسی او غم په حال کې خپل قوم ته راستون شو او (ورور ته یې) وویل: زما په غیاب کې دې، زما
ښه نیابت نه دی کړی( او خلک دې له بت پرستۍ څخه نه دی منع کړی، او ای زما قومه!) آیا د خپل رب له
حکم نه وړاندې مو (د خوسی عبادت ته) تلوار وکړ؟ د تورات تختې یې وغورزولی او خپل ورور یې د سر (او
ږیرې) له ویښتانو راکش کړ. هارون وویل: ای زما د مور زویه! دې خلکو زه بې واکه او کمزوری کړم او
نږدې وه چې ومې وژنی، نو زما په رټلو او مواخذه راباندې دښمنان مه خوشالوه او په ظالمانو کې مې مه
شمیره .

قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَلِأَخِى وَأَدْخِلْنَا فِى رَحْمَتِكَ ۖ وَأَنتَ أَرْحَمُ
ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾

موسی وویل: ای زما ربه! ما او ورور ته مې ببښنه وکړه او خپل رحمت او مهربانی راباندې ولوروه، او بیشکه
چې ته ډیر زیات رحم کوونکی او مهربان ذات یې.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي
ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُفْتَرِينَ ١٥٢

هغه کسان چې خوسی يې په خدايۍ نيولی،( په آخرت کې به) د خپل رب په لوی غضب اخته او په دنيا کی به ذليل او رسوا شی. مونږ هغو کسانو ته چې( د الله تعالی په پاک ذات) تومتونه تړی( او د هغه په مقابل کې د باطلو خدايانو عبادت کوی) دغه ډول سخته سزا ورکوو.

وَٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعْدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ
بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ١٥٣

او هغه کسان چې د ګناه له ارتکاب نه وروسته توبه وباسی او ايمان راوړی( هيله من دې اوسی چې) ستا رب ورته( له هغې توبې وروسته چې مخلصانه ايمان ورسره مل وی) زيات ښښونکی او رحمت لرونکی ذات دی( او تير ګناهونه او اشتباهات به ورته وبښی).

وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلْغَضَبُ أَخَذَ ٱلْأَلْوَاحَۖ وَفِي نُسْخَتِهَا
هُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ١٥٤

او کله چې د موسی د قهر او غصې لمبه سړه شوه،( د تورات) لوحې يې بيرته له ځمکې راواخستې چې په هغو کې د هدايت او رحمت زيری و، هغو کسانو ته چې د خپل رب( له عذاب) نه ويره لری.

وَٱخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُۥ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَٰتِنَاۖ فَلَمَّآ أَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ
قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُم مِّن قَبْلُ وَإِيَّٰيَۖ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ
ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآۖ إِنْ هِيَ إِلَّا فِتْنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهْدِي مَن تَشَآءُۖ
أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَاۖ وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْغَٰفِرِينَ ١٥٥

( د الله تعالی په امر) موسی د خپل قوم له اویاو تنو مشرانو سره د ښېښي غوښتلو لپاره( بیرته) ټاکلی میقات ته لاړ، خو کله چې ( دغه مشران د خپل نامناسب درخواست له امله چې د الله تعالی د مخامخ ملاقات لپاره یې وړاندې کړ ) شدیدې او تباه کوونکې زلزلې راونیول، موسی( الله تعالی ته عرض وکړ چې) ای ربه که تا غوښتلی لا پخوا به دې زه او دوی ټول هلاک کړی وی. آیا د څو تنو بې عقله او جاهلو کسانو د ګناه له امله، مونږ ټول تباه کوې؟ دا هم ستا لوی ازمایښت دی، چاته چې اراده وکړې وربانده یې ګمراه کوې او چاته چې وغواړې د هدایت په لاره یې برابروې، ته زمونږ حامی او مرستندوی یې، مونږ وبښه او رحم راباندې وکړه ځکه چې ته ډیر ښه ښښونکی ذات یې.

۞ وَٱكۡتُبۡ لَنَا فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِنَّا هُدۡنَآ إِلَيۡكَۚ قَالَ عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنۡ أَشَآءُۖ وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤۡمِنُونَ ١٥٦

او زمونږ لپاره په دنیا کې نیکی( ښه روزی او د اطاعت او عبادت توفیق) ولیکه او په آخرت کې هم راته نیکی(جنت او ستا رضا) راپه برخه کړه. بیشکه چې مونږ تاته په رښتینی توګه پناه راوړیده ( او درته توبه ګار شوی یو). الله تعالی وفرمایل: عذاب مې یوازې د هغو کسانو لپاره ځانګړی دی چې اراده ورته وکړم او رحمت مې( په دنیا کې) په ټولو شیانو محیط دی،(خو په آخرت کې به خپل رحمت یوازې په هغو کسانو ولوروم چې( له شرک، کفر او ارتداد نه) ځان ساتی او زکات ورکوی( یعنې د خپل نفس او مال په تزکیه کې مصروف دی) او زما په آیتونو پوره ایمان لری.

ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا
عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ
عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ
ٱلْخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَٰلَ ٱلَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ
فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُوا۟ ٱلنُّورَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ
مَعَهُۥٓ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾

**او هغه کسان به ترې هم برخمن شی چې په هغه امی پیغمبر ایمان راوړی چې دوی یې نښې او مشخصات په تورات او انجیل کې لوستی، هغه پیغمبر چې دوی ته په نیکو چارو امر کوی او له بدو او ناوړو اعمالو یې راګرځوی، پاک شیان ورته حلال او ناپاک ورته حرام اعلانوی او د هغوی له اوږو نه( د جهل او بدعت) د درنو مسئولیتونو او ځنځیرونو بارونه لیرې کوی. نو هغه کسان چې په دغه پیغمبر یې ایمان راوړی، د هغه ملاتړ یې کړی او مرسته یې ورسره کړې او په هغه باندې د نازل کړی شوی نور( قرآن) پیروی کوی، په حقیقت کې همدغه کسان نیکمرغه او بریمن دی.**

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ
مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟
بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ
وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾

**ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې بیشکه زه تاسو ته د الله تعالی له لوری رالیږل شوی پیغمبر یم، د هغه مقتدر ذات پیغمبر، چې د آسمانونو او ځمکې مالکیت او سلطنت یې په لاس کې دی، له هغه نه غیر بل خدای نشته،**

ژوند او مرګ د هغه په واک کې دی، نو تاسو په الله او په امی پيغمبر يې چې په الله تعالی او الهی آيتونو ايمان لری، ايمان راوړئ او د هغه پيروی وکړئ تر څو د هدايت لاره ومومئ.

وَمِن قَوۡمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ ١٥٩

او د موسی په قوم کې( د عبدالله ابن سلام په ګډون) داسې ډله هم شته چه خلک د حق لوری ته رابلی، پخپله هم په حق ولاړ دی (او هم د انصاف او عدالت په رڼاکې فيصلې کوی).

وَقَطَّعۡنَٰهُمُ ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ أَسۡبَاطًا أُمَمٗاۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ
ٱسۡتَسۡقَىٰهُ قَوۡمُهُۥٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ
فَٱنۢبَجَسَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ
مَّشۡرَبَهُمۡۚ وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡغَمَٰمَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَنَّ
وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ وَمَا ظَلَمُونَا
وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١٦٠

او بنی اسرائيل مو په دولسو قبيلو او خيلونو وويشل. کله چې (دغو قبيلو له موسی نه) د اوبو غوښتنه وکړه نو مونږ موسی ته امر وکړ چې دغه ډبره پخپله امسا ووهه،( همدا چې ډبره يې په امسا ووهله) دولس چينې ترې راوبهيدې او هرې قبيلې خپله چينه پيژانده، مونږ په هغوی باندې( د بيديا د سوزوونکې ګرمی نه د ساتلو لپاره) د وريځو سيوری جوړ کړ او د من او سلوی( خوندور خواړه) مو هم ورته نازل کړل( او ورته مو وويل:) وخورئ هغه پاکه روزی چې مونږ درپه برخه کړې ده. خو هغوی(د دغو ټولو نعمتونو ناشکری وکړه او پخپل کفران او عصيان سره يې ) په مونږ ظلم نه دی کړی بلکه له خپلو ځانونو سره يې زياتی کړی او پخپله زيانمن شوی دی.

وَإِذۡ قِيلَ لَهُمُ ٱسۡكُنُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ وَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ
شِئۡتُمۡ وَقُولُواْ حِطَّةٞ وَٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ
خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡۚ سَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٦١﴾

او كله چې بنى اسرائيلو ته امر وشو چې دغه ښار( بيت المقدس) ته ننوزئ او پكې واوسيږئ او په هره برخه كې مو چې خوښه وى ميوې( او غلې دانې ) يې وخورئ( او په دعا كې) ووايئ:( اى ربه) زمونږ ګناهونه راته وبښه. او تعظيم كوونكى او سجده كوونكې د ښار په دروازه ننوزئ، نو مونږ به ستاسو ګناهونه درته وبښو او نيک عمله كسانو ته به لا زيات اجر وركړو.

فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي قِيلَ لَهُمۡ
فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ
يَظۡلِمُونَ ﴿١٦٢﴾

خو په هغوى كى ځينو ظالمانو هغه خبره (چې د ښار نه بهر ورته ويل شوې وه) په بله واوړوله، او مونږ هم وربانديې د دغه ظلم( او سرغړونې) له امله آسمانى عذاب نازل كړ.

وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَتۡ حَاضِرَةَ ٱلۡبَحۡرِ إِذۡ
يَعۡدُونَ فِي ٱلسَّبۡتِ إِذۡ تَأۡتِيهِمۡ حِيتَانُهُمۡ يَوۡمَ سَبۡتِهِمۡ
شُرَّعٗا وَيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُونَ لَا تَأۡتِيهِمۡۚ كَذَٰلِكَ نَبۡلُوهُم
بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٣﴾

( اى پيغمبره!) له يهوديانو نه د (ايله) ښار د اوسيدونكو( يهودو) په باب پوښتنه وكړه چې د بحر په غاړه اوسيدل او په كب نيولو روږدى وو خو الله تعالى وربانديې د ازميښت په توګه د شنبې په ورځ د كبانو ښكار حرام او ممنوع كړى و، په داسى حال كې چې په دغه ورځ به لوى شمير كبان د اوبو سر ته راختل، خو په نورو ورځو كې به ورک وو،( د ښار اوسيدونكو د الله تعالى حكم ته د حيلو او پلمو جوړولو لپاره ډنډونه جوړ كړل چې د شنبې په ورځ به يې كبان پكې راايسار، او بيا به يې په نورو ورځو كې نيول تر څو د شنبې د

ورځې ممنوعيت ورباندې ثابت نشی) نو ځکه خو الله تعالی، هغوی د پرله پسې ګناهونو،سرغړونو( او حيلو جوړولو له امله) له سختو ازميښتونو سره مخامخ کړل( تر څو پاک سيرته نيکان له مفسدانو څخه جلا شی).

وَإِذۡ قَالَتۡ أُمَّةٞ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُونَ قَوۡمًا ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾

(او يهوديانو ته ورياده کړه) کله چې د هغوی يو شمير( نيکو او صالحو اسلافو، خپلو نورو نصيحت کوونکو او مهربانو خيرخواهانو ته) وويل: تاسو ولې هغو خلکو ته چې الله تعالی يې د تباه کولو او تعذيب اراده کړې، نصيحتونه کوئ؟( دا ډول نصيحتونه نامناسب او بې ګټې دی) هغوی ورته وويل:مونږ خپله (د امر بالمعروف او نهی عن المنکر) وظيفه سرته رسوو، تر څو مو د الله تعالی په حضور کې عذر ثابت وی، (او دا هم کيدی شی چې دغه خواران له ګناهونو او معاصيو څخه لاس واخلی، او د ايمان نور يې د زړونو تل ته ورسی) او د تقوا لاره غوره کړی.

فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٥﴾

نو کله چې هغوی نصيحتونه ونه منل( د عذاب د نزول په وخت کې مو) ناصحين او خير غوښتونکی وژغورل او ظالمان او سرغړوونکی مو په سخت عذاب اخته کړل.

فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿١٦٦﴾

او چې بيا يې هم له نواهيو نه لاس وانخست او زمونږ له احکامو او اوامرو نه يې سرکشی وکړه، ورته مو امر وکړ چې د رټل شويو بيزوګانو په اشکالو واوړئ( او د خپلو حيوانی اخلاقو او کړو وړو له مخې، له انسانی جامعې نه مطرود، او د منفورو او رټل شويو کسانو په ډله کې شامل شی).

وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبۡعَثَنَّ عَلَيۡهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَن يَسُومُهُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ ٱلۡعِقَابِۖ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٦٧﴾

(او يهوديانو ته هغه هم ورپه ياد کړه) چې ستا رب( د پيغمبرانو په وسيله) اعلان وکړ چې( که يهوديان د تورات په احکامو عمل و نه کړی)نو الله تعالی به ورباندې د قيامت تر رارسيدو پورې (وقتاً فوقتاً داسې خلک مسلط کړی چې سخت عذابونه به ورکوی( چې ښه مثال يې تر ننه پورې د دوی محکومانه ژوند او په هر

عصر کې وربانديٍ د بيلابيلو پاچاهانو او واکدارانو تسلط او باجګيری وه). يقيناً چې ستا رب (مفسدينو او سرغړوونکو ته) چټکه سزا ورکوونکی او( د توبه کوونکو او فرمان منونکو لپاره) زيات ښښونکی او مهربان ذات دی.

وَقَطَّعۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُمَمٗاۖ مِّنۡهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنۡهُمۡ
دُونَ ذَٰلِكَۖ وَبَلَوۡنَٰهُم بِٱلۡحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمۡ
يَرۡجِعُونَ ١٦٨

او دوی مو په ځمکه کې د بيلابيلو ډلو ټپلو په شکل خواره واره کړل ( چې هيڅ ملک ترې خالی نه دی) يوه ډله يې د نيک عمله او صالحو کسانو وه او بله يې بد عمله او مفسدين وو، او بيا مو ټول په نيکمرغيو او بدبختيو وازمايل چې کيدی شی( بد عمله او مفسدين پکی بيرته نيکې لارې ته) راوګرځی.

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٞ وَرِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَأۡخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلۡأَدۡنَىٰ
وَيَقُولُونَ سَيُغۡفَرُ لَنَا وَإِن يَأۡتِهِمۡ عَرَضٞ مِّثۡلُهُۥ يَأۡخُذُوهُۚ أَلَمۡ يُؤۡخَذۡ عَلَيۡهِم مِّيثَٰقُ
ٱلۡكِتَٰبِ أَن لَّا يَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّ وَدَرَسُواْ مَا فِيهِۗ وَٱلدَّارُ
ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٦٩

( که څه هم په لومړنی نسل کی يې يوشمير صالحين موجود وو) خو وروستی نسل او ځوځات يې چې د (آسمانی) کتاب( تورات) وارثان وو، بيخی ناخلفه او مفسدين ثابت شول، په دنيوی بې ارزښته ګټو او رشوتونو به يې( د تورات احکام تحريفول او د هغو خلاف فيصلې به يې صادرولې) او ويل به يې ( پروا نشته ) دا هر څه راته ښښل کيږی، خو که نور رشوت به ورته پيدا شو، هم صرفه يې وربانديٍ نه کوله. آيا له هغوی نه د کتاب (تورات) په واسطه وعده نه وه اخستل شوې او دا يې پکې نه وو لوستی چې د الله تعالی په باب به له حق نه غير، بله خبره نه کوی؟ اوآيا په دې نه پوهيږی چې د آخرت کور د هغو خلکو لپاره ډير غوره دی چې( له ګناهونو او نامشروع ګټو او تومتونو څخه) ځانونه ساتی.

وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ
ٱلۡمُصۡلِحِينَ ١٧٠

او هغه کسان چې په آسماني کتاب عملاً پابند او ټينګې منګولې يې وربانديې لګولې او د لمانځه نظام يې قايم کړی( د لوی اجر مستحق دی) او مونږ د نيکانو اجر هيڅکله نه ضايع کوو.

۞ وَإِذۡ نَتَقۡنَا ٱلۡجَبَلَ فَوۡقَهُمۡ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٞ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُۥ وَاقِعُۢ بِهِمۡ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱذۡكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٧١

او( ای پيغمبره يهوديانو ته) هغه وخت ورياد کړه چې د( طور) غر مو راپورته او د يوې چترۍ په شان مو د دوی په سر راځوړند کړ، او ويې انګيرله چې( که تورات و نه منی) غر وربانديې راپرېوزی، او ورته مو وويل: (هغه شرعی احکام او فرمانونه چې په کتاب کې) در کوو، په پوره عزم او اخلاص سره واخلئ او تطبيق يې کړئ او هدايات او حقايق يې په پوره توګه زده کړئ( او په حافظه کې يې وساتئ) تر څو پرهيزګاران شئ.

وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدۡنَآۚ أَن تَقُولُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنۡ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ١٧٢

(او ای پيغمبره خلکو ته ورياد کړه) هغه وخت چې ستا رب( د زماني او پيړيو په اوږدو کې) د آدم نسل، د انسان د ملا (له هډوکی) راوزيږاوه( عقل او ادراک يې ورکړ او د خپل ذات په الوهيت يې ترې اقرار واخست) او بيايې هغوی په خپلو ځانونو ګواهان کړل او پوښتنه يې ترې وکړه چې: آيا زه ستاسو رب نه يم؟ ټولو (د حال په ژبه) اقرار وکړ چې: هو، ته زمونږ رب يې.( په دی دنيا کې، ستاسو نه زما د ربوبيت د اقرار اخستلو هدف دا و تر څو) د قيامت په ورځ و نه وايی چې مونږ( د الله تعالی د توحيد او ربوبيت له څرګند حقيقت نه) بې خبره وو.

أَوۡ تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أَشۡرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةٗ مِّنۢ بَعۡدِهِمۡۖ أَفَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ١٧٣

او دا هم و نه وايئ چې د شرک او ګمراهی اصل مرتکبين خو، زمونږ پلرونه وو، او مونږ د هغوی د تقليد نه غير بله لار نه درلوده، نو ته اوس د هغوی د ګمراهی جزا مونږ ته راکوې؟

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْأَيَٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٧٤﴾

**په دې توګه مونږ دلایل، (په مستدل او منطقی توګه) بیانوو، (تر څو هغوی له عقل نه کار واخلی او د حق په لور) راوګرځی.**

وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ٱلَّذِىٓ ءَاتَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ
ٱلشَّيْطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلْغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾

**او د هغه سړی داستان ورته واوروه چې مونږ ورته د خپلو آیتونو( علم) ورکړی و،( خو هغه یې قدر ونه کړ او) ترې بې اعتنا شو، نو شیطان ورسره ملګری شو او د ګمراهانو په کتار کې یې ودراوه.**

وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ إِلَى ٱلْأَرْضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ ۚ
فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ
يَلْهَث ۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ۚ فَٱقْصُصِ
ٱلْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾

**که زمونږ اراده وی نو درجه او مقام به مو ورته لوړ کړی وی( او علم به یې د ده د نیکمرغۍ سبب شوی وی) خو هغه ( پخپل علم عمل و نه کړ بلکه) مادی او دنیوی لذتونو ته یې ترجیح ورکړه او د خپلو نفسی خواهشاتو پیروی یې کوله. مثال یې د هغه سپی دی چې که حمله پرې وکړې(او ویې شړې) هم ژبه راوباسی او که په خپل حال یې پریږدې هم ژبه راوباسی( یعنې که پند او نصیحت ورته وکړې هم ګمراه دی او که پخپل حال یې پریږدې هم د ګمراهۍ لاره نیسی). دا د هغو خلکو داستان دی چې زمونږ آیتونه یې دروغ ګڼلی، نو( ای پیغمبره! دغه له عبرت نه ډک داستان خلکو، په تیره بیا هغو یهودیانو ته) بیان کړه (چې ستا نبوت یې دروغ ګڼلی، کیدی شی پخپل دریځ نوی) فکر وکړی( او د حق په لاره روان شی).**

سَآءَ مَثَلًا ٱلْقَوْمُ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَأَنفُسَهُمْ كَانُوا۟
يَظْلِمُونَ ﴿١٧٧﴾

**څومره بد دی د هغو خلکو داستان چې زمونږ آیتونه دروغ ګڼی او ( د ناوړو اعمالو په ارتکاب سره) تل پخپلو ځانونو ظلم کوی.**

مَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِى ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿١٧٨﴾

حقیقی او ربښتونی لار موندونکی هماغه کسان دی چې الله تعالی ورته هدایت کړی، او حقیقی زیان موندونکی هغه دی( چې د عناد او لجاجت له امله یې) د ګمراهۍ لاره غوره کړی ده.

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا
يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ ءَاذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَآ ۚ
أُو۟لَٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْغَٰفِلُونَ ﴿١٧٩﴾

او بیشکه چې مونږ د دوزخ لپاره زیات شمیر پیریان او انسانان پیدا کړی، هغوی زړونه لری خو( د اسلامی علومو) د پوهیدو لپاره ترې کار نه اخلی. سترګې لری خو( حقایق او د حق نښانې ورباندې) نه وینی او غوږونه لری خو( د الله تعالی او پیغمبر احکام او نصایح) ورباندې نه اوری، د دوی مثال لکه د څارویو دی بلکه له څارویو نه هم لا زیات لاروركی دی( ځکه دوی د خپلو دنیوی او اخروی ښیګڼو نه)کاملاً ناخبره او بې پروا دی.

وَلِلَّهِ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ فَٱدْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا۟ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ
أَسْمَٰٓئِهِۦ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٨٠﴾

او ټول نیک نومونه د الله تعالی لپاره ځانګړی دی نو په همدغو نومونو، ورته دعا وکړئ او د هغو خلکو پروا مه ساتی چې د الله تعالی په نومونو کې انحراف کوی( او غیر شرعی نومونه ورته یادوی) لیرې نه ده چې دوی به د خپلو اعمالو په سزا ورسیږی.

وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٨١﴾

او په هغو خلکو کې چې مونږ پیدا کړی،( د محمدی امت د فرقه ناجیه په نوم ) داسې یوه ډله هم شته چې خلک د حق( اسلام) په لوری رابلی او په صداقت او انصاف فیصلې کوی.

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٢﴾

**او هغه کسان چې زمونږ آیتونه دروغ ګڼي، په تدریجي توګه به یې په داسې( دنیوی او اخروی عذابونو اخته کړو چې په خیال او خاطر کې به یې هم نه ګرځي.**

وَأُمۡلِي لَهُمۡۚ إِنَّ كَيۡدِي مَتِينٌ ﴿١٨٣﴾

**او هغوی ته مهلت ورکوم( ځکه چې زما د قدرت له ساحې نه وتلی نشي) بیشکه چې زما تدبیر او پلان ډیر پیاوړی دی.**

أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿١٨٤﴾

**آیا( د حق مخالفین) په دې فکر نه کوي چې د دوی په ملګری(محمد صلی الله علیه و سلم) کې هیڅ ډول جنون (او عصبی اختلال) نشته بلکه یو ښکاره تنبیه کوونکی دی( چې تاسو د الله تعالی له عذابه ویروی).**

أَوَلَمۡ يَنظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ وَأَنۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقۡتَرَبَ أَجَلُهُمۡۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ﴿١٨٥﴾

**آیا هغوی د آسمانونو او ځمکې سلطنت او واکمنی، او هغو شیانو ته چې الله تعالی پیدا کړی او دې خبرې ته چې کیدی شی د مرګ وخت یې نږدې شوی وی، په غور نه دی ځیر شوی؟ نو( د هدایت د دې یوازینی منبع یعنې قرآن مجید نه غیر) په بل څه شی ایمان راوړی؟**

مَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُۥۚ وَيَذَرُهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿١٨٦﴾

**څوک چې( د لجاجت او عناد له امله)، الله تعالی بې لارې کړی وی، هیڅوک یې بیرته د هدایت په لاره نشی سمولی او الله تعالی یې هم پریږدی چې په سرکشۍ او طغیان کې لا زیات سرګردانه وی.**

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى ۖ لَا يُجَلِّيهَا
لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْـَٔلُونَكَ
كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾

**ای پیغمبره! خلک تل ستانه د قیامت په باب پوښتنه کوی چې کله به راځی؟ ورته ووایه: د قیامت علم زما له رب سره دی او پخپل وخت به راځی. دغه لویه او ویروونکې واقعه په آسمانونو او ځمکه ډیره درنه ده او په تاسو به یې راتګ بیخی ناګهانی وی. هغوی ستانه داسې پوښتنې کوی لکه تا چې لا پخوا د قیامت په باب څیړنې او تحقیقات کړی او ښه ترې خبر یې. ورته ووایه د قیامت علم یوازې له الله تعالی سره دی خو ډیر خلک( په دغه حقیقت هم) نه پوهیږی.**

قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ
ٱلْغَيْبَ لَٱسْتَكْثَرْتُ مِنَ ٱلْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِىَ ٱلسُّوٓءُ ۚ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ
وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾

**ای پیغمبره! ووایه: زه خپل ځانته د ګټې( رسولو) او  ضرر( د دفع کولو) هیڅ واک او اختیار نه لرم مګر یوازې په هغه اندازه چې الله تعالی (یې پخپل مرحمت سره ماته قدرت راکړی وی). که زه په غیبو پوهیدی نو ځانته به مې ډیره ګټه رسولی او هیڅکله به راته زیان او تاوان نه رسیدی، خو زه ( یوازې د الله تعالی له عذابه ) اخطار ورکوونکی او( د جنت او اخروی نیکمرغۍ) زیری ورکوونکی یم، هغو خلکو ته چې ایمان او باور لری.**

۞ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا
لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ۖ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهِۦ ۖ
فَلَمَّآ أَثْقَلَت دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ ءَاتَيْتَنَا صَٰلِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ
ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٨٩﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو يې له يوه نفس(آدم) نه پيدا کړی ياست او د هغه ښځه يې هم د هغه له جنس نه زيږولې تر څو ورسره آرام او هوسا شی، خو( ډير داسې کيږی چې) نارينه د فطری غوښتنې د پوره کولو لپاره له ښځې سره جنسی رابطه ونيسی او ښځه د يو خفيف حمل (جنين) لرونکی شی، چې په لومړی مرحله کې ورسره ګرځيدی راګرځيدی او زيست روزګار کولی شی. خو کله چې يې حمل دروند شی، ښځه او خاوند دواړه خپل رب ته دعا وکړی چې که مونږ ته سالم او صالح اولاد را په برخه کړې، مونږ به ستا د احسان شکرکوونکی يو.**

فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحًا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَا ۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ
عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٩٠﴾

**خو کله چې الله تعالی هغوی ته روغ او صالح اولاد ورکړی نو بيا په دې الهی لورينه او نعمت کې( د صالحانو او اولياو د قبرونو او حتی بتانو مهربانی هم) ورشريکه کړی، پاک دی د الله تعالی ذات د دوی له مشرکانه اعمالو او تورټکو څخه.**

أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾

**آيا داسې څه له الله تعالی سره شريک ګڼی چې د هيڅ شی د پيداکولو توان او قدرت ورسره نشته بلکه هغوی خو پخپله مخلوقات دی؟**

وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾

**دغه باطل خدايان، نه خپلو ځانونو ته څه خير رسولی شی او نه د خپلو عبادت کوونکو سره لاس امداد کولی شی.**

وَإِن تَدۡعُوهُمۡ إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمۡۚ سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡ أَدَعَوۡتُمُوهُمۡ أَمۡ أَنتُمۡ صَٰمِتُونَ ١٩٣

اوکه تاسو دغه بتان سمې لارې ته راوبلی، نو هم ستاسو دعوت نه منی. هغوی ته دعوت ورکول(یا دعا کول) او ورته سکوت کول دواړه یو شان دی( ځکه چې د تیږو مجسمې دی) .

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمۡثَالُكُمۡۖ فَٱدۡعُوهُمۡ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٩٤

دغه باطل خدایان چې تاسو د الله تعالی په مقابل کې غوره کړی، ستاسو په شان مخلوقات دی، که تاسو په خپله عقیده کې راسخ او ربښتونی یاست( او د خپلو باطلو خدایانو په ربوبیت ټینګ ولاړ یی) نو له هغوی نه څه وغواړئ چې دعا مو قبوله کړی.

أَلَهُمۡ أَرۡجُلٞ يَمۡشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَيۡدٖ يَبۡطِشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَعۡيُنٞ يُبۡصِرُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۗ قُلِ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ١٩٥

آیا ستاسو باطل معبودان پښې لری چې ورباندې وګرځی؟ آیا لاسونه لری چې څه ورباندې ونیسی؟ آیا سترګې یې شته چې څه ورباندې ووینی؟ او آیا غوږونه لری چې څه ورباندې واوری؟ ( ای پیغمبره!) ورته ووایه: تاسو او خدایان مو سره خپله ګډه دسیسه او پلان( زما په ضد وازمایی او) ماته هیڅ مهلت مه راکوی.

إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩٦

بیشکه( د ټولې نړۍ په مقابل کې) زما ساتونکی او مرستندوی، الله تعالی دی، هغه ذات چې کتاب(قرآن یې په تدریج سره) نازل کړی او د ټولو صالحانو او نیکوکارانو مرسته کوی( او چارې یې سمبالوی).

وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَكُمۡ وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ ١٩٧

او هغه باطل خدایان چې تاسو ورته د الله تعالی په مقابل کې خپلې غوښتنې وړاندې کوئ، نه ستاسو سره مرسته کولی شی او نه د خپل کوم درد دوا کولی شی.

وَإِن تَدۡعُوهُمۡ إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا يَسۡمَعُواْۖ وَتَرَىٰهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ وَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ١٩٨

اوکه د هدایت لارې ته یې راوبلې نو هم ستاسو خبره نه اوری. ته به انګیرې چې دوی تاته ګوری، خو هغوی هیڅ شی نه وینی( بلکه بې روحه بتان دی).

خُذِ ٱلۡعَفۡوَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡعُرۡفِ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡجَٰهِلِينَ ١٩٩

(ای پیغمبره! له تند خویۍ او سخت ګیری نه ځان وساته) او تل د عفوی او نرمی لار خپله کړه او خلکو ته په نیکو چارو امر کوه او له جاهلانو سره جاروجنجال مه کوه.

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٠٠

او که شیطان درته وسوسه درواچوی( او سخت زړی او تند خویی ته دې وهڅوی نو له الله تعالی نه پناه وغواړه( چې وسوسه دې دفع کړی) بیشکه چې الله تعالی ډیر ښه اوریدونکی او په هر څه پوه ذات دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ إِذَا مَسَّهُمۡ طَٰٓئِفٞ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ ٢٠١

او پرهیزګارانو ته چې کله د شیطان له لوری وسوسه پیښه شی نو ډیر زر د الله تعالی ذکر پیل کړی او بیرته ویښ او په سد شی.

وَإِخۡوَٰنُهُمۡ يَمُدُّونَهُمۡ فِي ٱلۡغَيِّ ثُمَّ لَا يُقۡصِرُونَ ٢٠٢

او شیطان، خپل (شیطان صفته) ورونه د ګمراهی په لور راکاږی او( په انحراف او تیرویستلو کی یې) هیڅ صرفه او کمی نه کوی.

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِـَٔايَةٍ قَالُواْ لَوْلَا ٱجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ
مِن رَّبِّي ۚ هَٰذَا بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ
يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾

**(ای پیغمبره!) کله چې ته (د وحي د تاخير له امله) کافرانو ته د هغوی مطلوبه معجزه وړاندې نه کړې نو وايی ولې( دغه آيت يا معجزه) له خپل ځانه، نه جوړوې؟ ورته ووايه: زه د الهی وحې تابع يم او دا (قرآن) ستاسو د رب له لوری د حقايقو، دلايلو او هدايت او رحمت خزانه ده، د هغو خلکو لپاره چې مؤمنان او د بصيرت خاوندان دی.**

وَإِذَا قُرِئَ ٱلْقُرْءَانُ فَٱسْتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ
تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾

**او کله چې قرآن لوستل کيږی نو غوږ ورته ونيسئ او چپ اوسئ، چې رحم درباندې وشی.**

وَٱذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ ٱلْجَهْرِ مِنَ ٱلْقَوْلِ
بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْـَٔاصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾

**او سهار ماښام په حضور قلب او ويره او تضرع سره خپل رب يادوه او هيڅکله يې (له ذکر نه) مه غافل کيږه.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ
يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢٠٦﴾

**ستا د رب دربار ته مقربين( ملائک) هيڅکله د هغه له عبادت نه د تکبر او عار احساس نه کوی بلکه تل خپل رب په پاکئ يادوی او يوازې د هغه ذات ته سجده کوی.**

**«تمت سورة الاعراف بفضل الله»**

=======================